# مننلیک

د ماشوم له پاره د هر اړخیز او په زړه پورې ښوونیز چاپېریال، ښوونځی په اصل کې هغه کړنې دي چې د ټولو هغو زده کوونکو روزنیزې اړتیاوې به پوره کړي، چې د پوهنې په نظام کې شته دي. د دې ښوونځیو هڅه دا ده چې هغه جوړښتونه رامنځته کړي، چې ګټور او هر زده کوونکي ته به د هغوي د اړتیاوو په نظر کې لرلو سره (نه په هغه ډول، چې پخوا ورسره کېدل)چلند وشي.

د افغانستان د اسلامي جمهوریت د پوهنې وزارت له ټولو هغو کورنیو او بهرنیو مرستندویو بنسټونو نه، چې لاندې به یې نومونه راشي ډېره مننه کوي او د هغوي له مسلکي او تخصصي مرستو نه، چې د ماشوم له پاره د هر اړخیز او په زړه پورې ښوونیز چاپېریال د پالیسۍ په چمتو کولو کې یې، چې د زده کړو په آسانه کولو کې مرستندویه واقع شوي، د ستاینې وړ بولي او مننه ترې کوي.

د کار، ټولنیزو چارو، شهیدانو او معلولینو وزارت

STESE2-JICA

د افغانستان د ماین پاکي چارو د همغږۍ مرکز– MACCA

د افغانستان له پاره د خدمت مؤسسه SERVE

د افغانستان له پاره د سویډن کمیټهSCA

د نړۍ وال سازمان، تعلیمي، علمي او فرهنګي سازمان (UNESCO)

د ملګرو ملتونو د ماشومانو نړۍ وال صندوق (UNICEF)

او د ماشوم له پاره د هر اړخیزو زده کړو د همغږۍ غونډې ټول ګډونوال ...

له فرصت نه په ګټې اخیستو سره، پوهنې وزارت یو ځل بیا د تاسو له دغې بې سارې مرستې نه مننه کوي او په دې هیله دی چې ستاسو دا مرستې د ماشوم له پاره د هر اړخیز او په زړه پورې ښوونیز چاپېریال د ښوونځیو په برخو کې د پخوا په څېر ادامه ومومي.

په درناوي

فاروق وردګ
د افغانستان د اسلامي جمهوریت د پوهنې وزیر
وږی ۱۳۹۳

# فهرست


مخففونه ........................................................................................ 4
د سر خبرې:...................................................................................... 5
پېژندنه ........................................................................................... 7
لومړۍ برخه، د پالسي په اړه عمومي معلومات.......................................... 10
دویمه برخه، ځارنه او ارزونه ................................................................ 20
درېیمه برخه، صرفه جويي.................................................................. 28
څلورمه برخه، د ظرفیت لوړاوی ............................................................ 38
پنځمه برخه، د همغږۍ مېکانیزم ........................................................... 41
ضمیمه، با استعداد او نخبه ماشومان...................................................... 49
منابع/ پالیسۍ او اړوند اخذ لیکونه د نورو معلوماتو له پاره ............................ 51

**مخففونه (د ماشوم د هر اړخیزو او په زړه پورې زده کړې د همغږۍ په غونډو کې د ګډون کوونکو موسساتو او نهادونو لېست، د ځینو اصطلاحاتو په شمول)**

| مخفف | مشرح بڼه |
|---|---|
| ANAD | د افغان ناشنوایانو (نه اورېدونکو) ملي ټولنه |
| ASL | افغاني اشاري ژبه |
| CBR | د ټولنې پر بنسټ بیا پیاوړتیا |
| CP | دماغي ګوزڼ ( فلج) |
| CRCD | د سیمې په کچه د معلولو کسانو د بیا پیاوړتیا کمیټه |
| CwID | د دماغي معلولیت لرونکي ماشومان |
| DoMoE | د پوهنې ریاست |
| DoMoLSAMD | د کار، ټولنیزو چارو، شهیدانو او معلولینو ریاست |
| DPO | د معلولو کسانو بنسټ |
| EMAD | د معلولو د یوځای او پیاوړي کولو افغاني پروژه |
| ER | ختیځ زون |
| FW | سیمه ییز کارکوونکي |
| GoA | افغان حکومت |
| HBT | کورنی روزنیز مهالوېش |
| HI | په غوږونو نه اورېدونکي ( نه اورېدونکو) معلولین |
| HNI | د روغتیا نړۍ واله شبکه |
| ICRC | د سره صلیب نړۍ واله کمیټه |
| IRC | د ژغورنې نړۍ واله کمیټه |
| IRP | د فردي پیاوړتیا پلان |
| ISAF | د نړۍ وال امنیت مرستیال ځواک |
| JICA | د جاپان د نړۍ والو مرستو اداره |
| MoE | د پوهنې وزارت |
| NGO | نا دولتي موسسه |
| TTC | دارالمعلمین |
| MACCA | د افغانستان د ماین پاکي چارو د همغږۍ مرکز |
| UNMAS | د ماین پاکي خدمتونو نړۍ واله ټولنه |
| STESE2 | د ښوونکو د ځانګړو اړتیاوو د ښوونې پیاوړتیا (دویم پړاو) |
| CCD | د معلولیت لرونکو وګړو ټولنیز مرکز |
| FWF | د کورنیو د هوساینې موسسه |
| IE | هر اړخیزې زده کړې |
| SE | ځانګړې زده کړې |
| I&CFE-CWG | د ماشوم د هر اړخیزو او په زړه پورې زده کړې د کاري همغږۍ غونډه |

## د سر خبرې:

د عامو زده کړو او د ماشوم د ملګرو ښوونځیو پالیسي د افغانستان اسلامي جمهوریت د پوهنې وزارت له خوا او د کار، ټولنیزو چارو، شهیدانو او معلولینو وزارت، د ماشوم له پاره د هر اړخیز او په زړه پورې ښوونیز چاپېریال د همغږۍ ډلې او نورو مرستندویو بنسټونو له خوا چمتو شوې ده.

دا سند په ۲۰۰۹ لمریز کال کې تر یوې څېړنې وروسته د شته اړتیاوو له مخې چمتو شو، چې حکومتي او غیر حکومتي مرستندویه او اړوندو ادارو سره به مرسته وکړي، څو نور خپل کړه وړه همغږي اوسیستماتیک کړي، څو ګټور پرېوځي او د افغانستان له پاره د زده کړو کیفیت هم لوړ کړي.

له همدې امله پوهنې وزارت وایي؛ که د ماشوم له پاره د هر اړخیز او په زړه پورې ښوونیز چاپېریال ټول ښوونځي له عامو ځانګړنو نه برخمن نه شي، د ټولو ښوونځیو د زده کړو کیفیت د لوړولو خبره ناشونې ده.

په دې ورستیو کلونو کې عامو زده کړو او د ماشوم د هر اړخیزو ښوونیزو ښونځیو مفکورې خورا اهمیت پیدا کړی او افغانستان هم د نړۍ والې ټولنې د غړي هېواد په توګه له نړۍ والې ټولنې سره ژمنه کړې، چې ټول هغه ماشومان چې ښوونځي ته یې د تګ عمر پوره کړی وي تر ۲۰۲۰ کاله پورې تر خپل پوښښ لاندې راولي.

له همدې امله د افغانستان اسلامي جمهوریت د پوهنې وزارت په ۲۰۱۳ لمریز کال کې هڅه وکړه چې تر ۱۰.۵ میلونه زده کوونکي په ښوونځیو کې جذب کړي او سربېره پر نورو لاسته راوړنو د عامه زده کړو او د ماشوم د ملګرو ښوونځیو د پالیسۍ تدوین ته اشاره کولی شو.

د دې پالیسۍ موخه دا ده، چې عامه زده کړې او د ماشوم د ملګري ښوونځیو بهیر د پوهنې له سیستم سره مرسته وکړي او ټول ماشومان تر پوښښ لاندې راولي او (پوهنه د ټولو لپاره) د شعار په پلي کولو کې د یوې ستراتېژۍ په حیث ونډه واخلي.

یاده پالیسي د ماشوم په کم عمر کې، د عامه زده کړو په ښه والي او پراخوالي کې د ماشوم له وړتیاوو سره سم پام کوي؛ په ځانګړي ډول له هغو ماشومانو سره، چې تر ګواښ لاندې او بې برخې دي، معلولیتونه لري او همدا راز ښوونځیو ته د تللو په برخه کې هم ورسره مرسته کوي. د یادونې وړ ده، چې نومړی پالیسي یوازې په عمومي زده کړو پورې تړلې نه ده، بلکې د پوهنې وزارت نورې کړنلارې په بر کې نیسي او په موجود تعلیمي نصاب کې بدلون نه راولي.

د عامه زده کړو دودول په واقعیت کې د ښوونې او روزنې د چاپېریال د ښه کولو او د ښو او مثبتو کړووړو له پاره هڅونه ده .

د یادولو وړ ده، چې په دې برخه کې د پوهنې وزارت د تخصصي مرستې، STESE2- JICA، د افغانستان د ماین پاکي د همغږۍ مرکز، د ماشوم د هر اړخیزی زده کړې د کاري همغږۍ ګروپ او نورو وزارتونو او بنسټونو چې په ګډه یې د دې پالیسی په جوړولو کې کار کړی مننه او کورودانی وایي.
هیله مند یو، چې دا پالیسي د اولیتونو په نظر کې نیولو سره د پوهنې وزارت لخوا پلې شي.

# پېژندنه

د عامه زده کړو د کړووړو مفکورې په دې وروستیو کلونو کې خورا ډېر اهمیت پیدا کړی دی. دا اصطلاح په نړۍ کې په عام ډول د ملاتړ او پلوي په اصطلاح مانا شوې او د زده کوونکو ترمنځ د تنوع په ډول کارول کېږي. ([1])

له عامو زده کړو او د ماشوم له ملګري ښوونځي نه د افغان دولت تعریف دا دی:" د عامه زده کړو او د ماشوم د ملګري ښوونځي پالیسي؛ هغه پالیسي ده، چې موږ ته د ټولو ماشومانو له پاره پرته له کوم جنسیتي، سني، پوهې، معلولیت ، روغتیایي وضعیت، شرایطو او حالاتو او همداراز پرته له دې، چې ټولنیز، اقتصادي، قومي او ژبني شالید ته یې پام شي د مساویانه زده کړې او تحصیل لارې چارې په ډاګه کوي." (JSR, 2012: 10)

د عامه زده کړو او ماشوم د ملګري ښوونځي د همغږۍ د کاري ډلې کمیټه د ۲۰۰۸ لمریز کال په پسرلي کې جوړه شوه او په ۲۰۰۹ لمریز کال کې یې د عامه زده کړو او د ماشوم د ملګري ښوونځي د کار کولو په ډول په افغانستان کې هوکړې ته ورسېدل. د ډلې غړو هوکړه وکړه، چې په دې برخه کې یوه پالیسي جوړه کړي څو یې په نظري او عملي ډول د ماشوم لپاره د هر اړخیز او په زړه پورې ښوونیز چاپېریال له پاره د افغانستان د اسلامي جمهوریت په چوکاټ کې وړاندې کړي.

په همدې ډول د پالیسۍ چارې په ۲۰۱۳ لمریز کال کې پیل شوې. یاده پالیسي د حکمي تقنینی اسنادو پر رعایت سره په لاندې ډول جوړه شوه:

1. د ملګرو ملتونو د ماشوم د حقونو کنوانسیون(د ملګرو ملتونو ټولنه، ۱۹۸۹کال )
2. پوهنه د ټولو لپاره نړۍ واله اعلامیه ( د ملګرو ملتونو ټولنه، ۱۹۹۰ کال)
3. د سلامنکا د کاري چارچلند بیانیه (یونېسکو، ۱۹۹۴ کال)
4. د داکار کاري چارچلند ( یونېسکو، ۲۰۰۰ کال)
5. د زرېزې پرمختیایي موخې (د زرېزې پرمختیایي موخې، د ملګرو ملتونو ټولنه، ۲۰۰۰ کال)
6. د ملګرو ملتونو د معلولیت لرونکو وګړو کنوانسیون (د ملګرو ملتونو ټولنه، ۲۰۰۶ کال)

که څه هم افغانستان د (HDI) د بشري پراختیا د ۱۸۶ هېوادونو په نوملړ کې په ۱۷۵ ځای کې شتون لري، خو سره له هغه یې هم په تېرو لسو کلونو کې د پوهنې په برخو کې بې سارې لاسته راوړنې لرلي دي. [(2)]

سره له دې، تېرو څه باندې دېرشو کلنو جګړې ډېرې، ورانۍ، وچکالي، د بېځایه شوي خورا لویه برخه وګړي، ډېرې ننګونې پر ځای پرېښودې خو بیا هم په ښوونځي کې د شته

---

[1] جی. کوګیلماس. 2004 د شمولیت فرهنګ څه دی ؟ د امریکا متحده ایالتو  د بنګامتون پوهنتون د پوهنې او بشري پراختیا پوهنځی.

[2] د بشري پراختیا د درجه بندۍ شاخص . اقتباس په 28 اکتوبر 2013 له http://hdr.undp.org/hdr4press/press/outreach/figures/HDI_Trends_2013.pdf.

زده کوونکو شمېر په ۲۰۱۲ لمریز کال کې ۸.۶ میلونو ته ورسېده، خو سربېره پر دې، اوس هم په دې هېواد کې ۳.۵ میلونه داسې ماشومان شته، چې دمګړۍ ښوونځي ته نه ځي. [3]

په افغانستان کې د معلولو وګړو (NDSA) یوې ملي سروې اټکل کړه، چې 37.5 سلنه ټول هغه ماشومان، چې عمرونه یې له ۷ تر ۱۳ کلونو پورې دي په افغانستان کې د ښوونځیو له رسمي زده کړې نه بې برخې دي. ([4])

د دغې سروې له مخې، همدارز اټکل شوی، چې یوازې ۳۲ سلنه هغه معلول ماشومان، چې عمرونه یې له ۷ تر ۱۳ کلونو پورې وه، په رسمي ښوونځیو کې شامل شوي او یوازې ۴۸ سلنه نجونې ښوونځي ته ځي.(5)

پورتنۍ شمېرنې هغه ماشومان هم رانغاړي، چې معلولیتونه، لري او همدا ډول ډېر هغه ماشومان، چې عمرونه یې ډېر ول او په لومړنیو ښوونځیو کې یې لوست کاوه.

له همدې امله اړینه ده، چې حکومت، ښوونځي او د سیمې وګړي له ښوونځیو نه د محرومو ماشومانو په برخه کې مبارزه وکړي. دا هم ضرور دی، چې د افغانستان ټول ښوونځي د عامو ښوونځیو او د ماشوم له پاره د هر اړخیز او په زړه پورې ښوونیز پر چاپېریال واوړي. په عامه ښوونځیو کې ماشومان کولی شي له خپلو ورتیاوو سره سره زده کړې وکړي او اکاډمیکه، ټولنیزه، احساسي او فزیکي وده ترلاسه کړي. نو په دې ډول به ډېری زده کوونکي په ښوونځیو کې شامل شي او د هېواد په لوستو وګړو به واوړي او د ټولنې لپاره به ګټور پرېوځي.

د افغانستان په ښې راتلونکې کې (له لومړنۍ کچې تر لوړې کچې) د روزنې او تحصیل حیاتي ونډه په ټولو اسنادو کې تسجیل شوې: اساسي قانون، د افغانستان د پراختیا ملي ستراتېژي (ANDS)، د زریزې پراختیایي موخې (MDSs)، پوهنه د ټولو لپاره موخې (EFA)، د پوهنې قانون او د ښوونې د ملي ستراتېژۍ پلان (NESP-3). اساسي قانون (کال ۲۰۰۴) د ټولو ماشومانو او تنکیو زلمیانو ښوونېز او روزنیز حق په مساویانه ډول تضمینوي.

همدا ډول د پوهنې قانون، چې د ۲۰۰۸ کال د جولای په ۲۴ کې وضع شو، ښوونې ته یې د ټولو افغانانو حق روښانه کړ.

د یادولو وړ ده چې د هر اړخیزو زده کړو ریاست دندې د پوهنې د وزارت د نورو ادارو او نهادونو سره تداخل نه لري. د پوهنې وزارت د عمومي زده کړو ریاست د ټولو اړوندو مرستندویانو د نظرونو په راغونډولو کې، چې د یادې پالیسۍ په جوړولو کې یې لرل بې سارې زحمت ګاللې، خو د وخت د محدودیت له امله، چې د یادې پالیسۍ د کاري ډلې په غونډو کې د نه شتون له امله ونه توانېدو، چې د ټولو نظرونو پر راغونډولو بریالي شو. که

---

[3] د پوهنې وزارت د ستراتیژیک پلان جوړونې ریاست . 2013. د افغانستان د تعلیمي ملي ستراتیژیک پلان .

[4] په افغانستان کې د معلولو کسانو سروې، اقتباس په 28 اکتوبر 2013 کال له
http://www.unescap.org/stat/meet/widsm4/session4_NDSA_Handicap_Inst.pdf

[5] Ibid.

څه هم پالیسي له یوې مودې راهیسې تعدیل کېدی هم شي او موږ ستاسو رغندو وړاندیزونو ته د پالیسۍ د لا ښه والي په موخه سترګې پر لاره یو.

لومړۍ برخه، د پالسي په اړه عمومي معلومات

# د ماشوم له پاره هر د اړخيزو

# او په زړه پورو

# زده کړو پالیسي

## د پالیسۍ موخه :

د عامه زده کړو او د ماشوم لپاره د هر اړخیز او په زړه پورې ښوونیز چاپېریال پالیسۍ موخه دا ده، چې د افغانستان ټول ښوونځي په عامه او د ماشوم له پاره د هر اړخیز او په زړه پورې ښوونیز چاپېریال ښوونځي په ښوونځیو واوړي و د زده کوونکو اړتیاوو ته ځواب ووايي.

دا پالیسي د محرومیت پر خلاف او د تنوع دودول غواړي. نو له همدې امله اړینه بولو چې هم حکومت هم ښوونځي او هم د سیمې وګړي له ښوونځیو نه د محرومیت له پدیدې سره مبارزه وکړي.

په عامه ښوونځیو کې ماشومان کولی شي له خپلو وړتیاوو سره سم زده کړې وکړي او په لوړه اکاډمیکه، ټولنیزه، احساسي او فزیکي وده برلاسي شي. دا کړنې ماشومان دې ته چمتو کوي، چې ښوونځیو ته لاړ شي او له کیفیت لرونکو زده کړو نه برخمن شي.

د هغې سروې له مخې، چې په ۲۰۰۸ لمریز کال کې د یونېسکو په مالي او تخنیکي مرسته ترسره شوه دا په ډاګه کړه، هغه ګواښونه، چې د پوهنې په سیستم کې دننه ماشومان ورسره مخ دي په لاندې ډول دي:

1) هغه ماشومان، چې له بېړنیو پېښو زیانمن شوي دي
2) هغه ماشومان، چې له نشه يي توکو نه زیانمن شوي دي
3) هغه ماشومان، چې په بې وزلو کورنیو کې زیانمن شوي
4) معلولیت لرونکي ماشومان
5) هغه ماشومان، چې په قومي، ژبنیو، ټولنیزو او مذهبي لږکیو کې دي
6) ورانکاره او د قانون له مخې محکوم شوي زنداني ماشومان
7) د کوچیانو ماشومان
8) هغه ماشومان، چې له ښوونځي لرې ژوند کوي - په هغو کلیو کې، چې ښوونځي نه شته
9) بې کوره ماشومان – هغه ماشومان، چې د سړک پره سر ژوند کوي .
10) نجوني
11) کارګر ماشومان
12) هغه ماشومان، چې پاملرنه نه ورته کېږي او یا ناوړه استفاده ترې شوې وي
13) با استعداده ماشومان

## د هر اړخیزو زده کړو منطق

د داسې یوې ټولنې جوړول، چې هر چاته په کې ښه راغلاست وویل شي او په ټولنه کې فعاله ونډه واخلي. اړینه ده، چې عامه زده کړې د ټولنې په ټولو برخو کې د دولتي ښوونځیو په شمول پیل شي.

دا ډېره موده کېږي، چې خلک له ښوونې او تحصیل نه محروم پاتې شوي، تبعیض په ټولنه کې چغې وهي، له وګړو سره غیر عادلانه چلند ګېږي او له ټولنیز، احساسي، فزیکي او له اقتصادي اړخه یې خورا درانه رنځونه ګاللي دي .

هر اړ خیز او په زړه پورې زده کړې ټولې ۱۳ کټګورۍ ماشومان د لمړنیو زده کړو نه وروسته په عمومي زده کړو کې شاملوي.

## د بشر حقونه

1. ټول ماشومان حق لري، چې په ګډه سره زده کړې وکړي .
2. معلولیت لرونکي ماشومان باید له زده کړې نه محرومه، منزوي او ونه شړو او تبیعض ورسره ونه کړو.
3. هغه بالغ معلوله کسان، چې په ځانګړي ښوونځي کې په شتون محکوم دي د تبعیض د پای ته رسولو غوښتونکي دي.
4. هېڅ داسې ښوونیز دلیل د دې ارزښت نه لري، چې ماشومان سره جلا کړي، که ماشومان سره یوځای وي ټولو ته ګټه کوي. هېڅ اړتیا نه شته چې ماشومان یو له بله جلا وساتو.

## ښه ښوونه او تحصیل

7. د ځېړنو پایلې ښيي، که ماشومان سره یوځای وي له علمي او ټولنیز اړخه ښه کړوړه ترسره کوي.
8. هېڅ داسې زده کړه نه شته، چې ماشومان سره بېل کړي، خو د یوځای کولو دلیلونه یې خورا ډېر دي.
9. د ژمنې او ملاتړ په نظر کې نیولو سره سمه عامه زده کړې له ښوونېزو زېرمو نه د ښو ګټو اخیستنو تضمین کولی شي.

## ښه ټولنیز حس :

10. یوازېتوب ماشومانو ته وېره، جهالت او تعصب ورزده کوي. ټول ماشومان ښوونې ته اړتیا لري، چې مرسته ورسره وشي څو اړیکې سره پیدا کړي او یوه ټولنیز، چاپېریال ته سره چمتو شي.
11. یوازې یوځای کول د ماشومانو وېره له منځه وړي او ملګرتوب، درناوی او د یو بل درک ډېروي.

## هر اړخیز درسي نصاب :

په یوه هراړخیز درسي نصاب کې د ماشومانو ذهني او ټولنیزه وده او خلاقیتونه تر روزنې لاندې نیول کېږي او موخه یې د یویشتمې پېړۍ د زده کړو په څلورو بنسټونو ولاړه ده او دیویشتمې پېړۍ څلور بنسټیزې پښې( پایې) زده کړه، پوهېدنه، ترسره کونه او یوځای کېدنه ده او د بشري حقونو د زغم د حس په برخه کې یې لویه ونډه لوبولې او ډېر فرهنګي، دیني، جنسیتي او داسې نور اختلافونه یې له منځه وړي دي.
ټولیز درسي نصاب پرته له دې، چې جنسیت، فرهنګي هویت او ژبنی تېری په نظر کې نه نیسي بلکې ډېری درسي لارې چارې او درسي کتابونه هم ننګوي او له غوښتونو سره سم مخته ځي.
دا چې په ټولیز نصاب کې هر ماشوم ته په بېلابېلو ژبو لوست ورکول کېږي او په اساسي قانون کې هم همدا خبره راغلې، نو څرګنده خبره ده، چې په دې نصاب کې فرهنګي هویت

هم ساتل شوی دی او کولی شي د یوالي د ټینګېدو له پاره د یوې وسیلې په توګه ترې کار واخیستل شي .
تر اوسه پورې پرته له پښتو او دري ژبو ۴۸ شمېر کتابونه په ( ازبکي، نورستاني، پشه یي، بلوڅي، ترکمني، شغناني، ګوجري او واخاني) ژبو هغو ماشومانو ته لیکل شوي چې لومړی تر شپږم ټولګیو پورې رسېدلي، چې ډېر ژر به چاپ او خپاره شي.([6] ) په ډېری کلیوالو سیمو کې د بېلابېلو ځېړنو پایلو ښودلې چې په کورنی او ملي ژبو زده کړې د ماشوم پر لوست ښه اغېز کوي او د بېلابېلو علومو په ترلاسه کولو کې ګټور پرېوځي.([7])
د یوې کړنې کارونه، د نصاب په پالیسی کې ښې ګټې لري او کولی شو د ډېرو اړتیاوو له مخې یې وکارو. د ټولیز نصاب په پالیسی کې یو زده کوونکی د خپلو بېلابېلو غوښتنو پر بنسټ چې وړاندې ترې بې برخې ول، په هره برخه کې ګټه ترې واخلي.
دا چې نصاب دې، د زده کوونکو د اړتیاوو په پام کې نیولو سره جوړ شي او زده کوونکي، د ودې پړاونو ته چمتو کړي دا ډېره مهمه خبره ده. درسي نصاب، درسي کتابونه او تعلیمي مواد د ټولیزو ښوونځیو په را منځته کولو کې خورا مهمه ونډه لوبولی شي.
ډېری درسي نصابونه داسې تیار شوي، چې له ټولو زده کوونکو نه، یو ډول په یوه وخت کې ګټه اخیستنه او په یوه طریقه یې ترسره کوونه، غوښتل شوي، خو حقیقت دا دی، چې زده کوونکي یو له بل سره توپیر لري او غوښتنې یې هم همداسې. نو له دې امله اړینه ده، چې درسي نصاب باید تر ډېره بدلون موندونکی وي، څو د زده کوونکو له غوښتنو سره سم برابر شي او ښوونکي هم وهڅوي، چې له بېلابېلو لارو د زده کوونکو له غوښتونکو سره سم د حل لارې چارې ولټوي چې د ماشوم د زده کړې له اړتیاوو او غوښتنو سره سم وي. دا خبره د ځوانو زده کوونکو له روزنیزو فعالیتونو سره سم خورا اهمیت لرلی شي.
د افغانستان اساسي قانون د سیمه ییزو ژبو د دودولو کړنه هڅوي او په یوه ټولیز چارچلند کې یو ماشوم چې مورنی ژبه یې پښتو او دري وي، خپلی لومړنی زده کړې لړ تر لړه د دري کلونو له پاره په خپلو مورنیو ژبو ترسره کوي او سربېره پر دې باید رسمي ژبې هم زده کړي او په ترتیب سره به یې مورنی ژبې په رسمي ژبو اوړي. په دې لړ کې به خپلې لومړنی زده کړې په مورنی ژبه کوي او بیا به په پرله پسې ډول پرمختګ کوي.

## د ماشوم له پاره د هر اړخیز، دوستانه او په زړه پورې زده کړې پالیسي

### 1. د عامه پوهاوي او پالیسی جوړونې مهالوېش :

1) د پوهنې وزارت به د ماشومانو، کورنیو، سیمه ییزو خلکو، دیني عالمانو، د روغتیا او معارف مسوولینو، مقننه ځواک او نورو اړوندو مرستندویو ته د ټولیزو زده کړو په برخه کې د عامه پوهاوي مواد چمتو کړي.
2) د پوهنې وزارت باید د نجونو د زده کړې په اړوند، ټول وزارتونه، همغږی ډلې، دیني عالمان، سیمه ییز رهبران او مشران وهڅوي.

---

[6] د پوهنې وزارت د ستراتیژیک پلان جوړونې ریاست 13c20. د افغانستان تعلیمي ملي ستراتیژیک پلان (NESP3).
[7] تعلیم او تحصیل. نړۍ وال بانک. 2005. د اید یادښتونه. *د دوی په ژبه...پوهنه د ټولو لپاره*. اقتباس په 16 نوامبر 2013 له: https://www.google.com/search?client=safari&rls=en&q=EdNotes_Lang_of_Instruct.pdf&ie=UTF-8&oe=UTF-8#

3) د پوهنې وزارت به یو شمېر ښوونکي او سر ښوونکي د ماشوم له پاره د هر اړخیز او په زړه پورې ښوونیز چاپېریال ښوونځي په اړوند وروزي.
4) د پوهنې وزارت به یو شمېر ښوونکي د اشارې ژبې او د بریل لیک په برخه کې په مرکز او ولایتونو کې وروزي.
5) د ماشوم له پاره د هر اړخیز او په زړه پورې ښوونیز چاپېریال د ښوونځیو ریاست به یو شمېر ماسټر روزونکي(ماستر ترینران) له ځان سره ولري.
6) د پوهنې وزارت به هره میاشت د ماشوم له پاره د هر اړخیز او په زړه پورې ښوونیز چاپېریال د ښوونځیو په اړوند لیکي او په مخکښو ورځپاڼو کې به یې خپروي.
7) د پوهنې وزارت به هره اونۍ د ښوونې او روزنې ټلوېزیون له لارې د ماشوم له پاره د هر اړخیز او په زړه پورې ښوونیز چاپېریال د ښوونځي په اړوند خپرونې جوړې او خپرې کړي. همداراز به ځینې معلول ماشومان راوبولي چې د خپلو وړتیا او غوښتنو په اړه خبرې وکړي، څو په دې ډول د خلکو پام ځان ته راواړي او د اړوندو چارو په برخه کې به د اړتیاوو په وخت کې ورسره مرستې وکړي.
8) یادې خبرې چې له افغاني کلتور سره سمون لري په پښتو او دري ژبو دې وژباړل شي او اړوندو ریاستونو ته دې ورسول شي.

## 2. د زده کړو د سیمو پراخوالی او پوښښ

1 د پوهنې وزارت دې د ماشوم له پاره د هر اړخیز او په زړه پورې ښوونیز چاپېریال ښوونځي، د خپلو ښوونځیو په درسي پروګرامونو کې شامل او دود کړي.
2 د پوهنې وزارت دې د ښوونځیو د ودانولو په وخت کې د نجونو او معلولو ماشومانو له پاره آسانتیاوې په پام کې ونیسي.
3 د پوهنې وزارت به د هېواد په بېلابېلو کلیو او باندو کې درسي ټولنې جوړې او پیل کړي او همداراز به پوهنې وزارت د هغوي د پیاوړي کولو په برخه کې هڅې وکړي او زده کوونکي به په پراخه سینه مني او د روزنیزو غوښتنو په برخو کې به یې لاس په کار کېږي او ځانګړې پاملرنه به ورته کوي.
4 د پوهنې وزارت او نور ټول وزارتونه او اړوند بنسټونه به نوي رسمي ښوونځي په بېلابېلو سیمو کې، په ځانګړي ډول په هغو سیمو کې، چې ماشومان له ښوونځیو لرې دي، جوړوي او د سیمې غیر رسمي ښوونځي به رسمي کوي او په هغو سیمو کې، چې د مختلطو (ګډو) زده کړو شونتیا نه وه، نو د نجونو له پاره به بېل ښوونځي جوړوي.
5 د هغو ماشومانو له پاره، چې محدودیتونه لري، د رسمي زده کړو له پاره( له درسي نصاب سره همغږې) دې، څو ټولګې په پام کې ورته ونیول شي.
6 د هغو ماشومانو له پاره، چې په کار بوخت دي، د عامه پوهاوي یو پروګرام په پام کې ورته ونیول شي. دا مهالوېش دې په لومړیو کې په آزمایښتي ډول د کابل په ۱۲ ښوونځیو کې جوړ شي.

7 یو هر اړخیز روزنیز او روغتیایي پروګرام به د هغو ماشومانو د پرمختګ له پاره هم په پام کې ونیول شي چې د ماشومتوب په لومړیو عمرونو(ECD) کې دي.

8 د دې سیستم پر بنسټ به زده کوونکي وکولی شي، چې د یوه تصویب شوي مرکز او ښوونځي ټولګیو کې خپل نوم ولیکي او هر کله، چې له کاره وزګارېدل په کور یا ښوونځي کې به لوست کوي او د آزموینې پر وخت به هماغه ښوونځي ته ځان ور حاضروي او وروسته له دې، چې په ټولو مضمونونو کې کامیابېدل بیا به بل ټولګي ته ارتقا کوي.

9 د زده کونکو له پاره به د انټرنټ په مټ له لرې لارې نه د زده کړې آسانتیاوې برابرې شي.

## 3.درسي نصاب، آزموینې او د ارزونې سیستم :

1) د پوهنې او نور اړوند وزارتونه او بنسټونه دې د اشاري ژبې یوه ویډیویي( انځوریز) قاموس جوړ کړي او هغه دې د هراړخیزو ښوونځیو او دارالمعلمینونو ته ور وپېژني.

2) د پوهنې او نور اړوند وزارتونه او بنسټونه دې د څلورم ټولګي زده کوونکو ته یو نوی مضمون ور وپېژني. دا مضمون به محلي معلومات ونومول شي. هغه څه، چې زده کونکي به یې په دې کتاب کې لولي د هماغو ولایتونو او ولسوالیو اړوند به چمتو کیږي او متن به یې ډېر د سیمه ییزو وګړو غوښتنې منعکس کړي. د دې کتاب منځپانګه به ډېره د کرهنې، پخلي، سیمه ییزو دودونو په ځانګړي ډول د پخلي او خوړو په اړه، اقتصاد او د وړو صنایعو د جوړولو، چاپېریال ساتنې، سیمه ییز فرهنګ، سیمه ییز تاریخ، غرمزلي (غره ګرځېدنه)، شاعري، داستانونو او داسې نورو په اړه وي.

3) د پوهنې او نور اړوند وزارتونه او بنسټونه به د ماشوم د هر اړخیز او په زړه پورې ښوونیز چاپېریال ښوونځیو ته د آزموینې او ارزونې لومړنی او منځنی سیستم جوړ کړي، چې دا کړنه به د هغو زده کوونکو شمېر، چې هر کال په ښوونځي کې ناکامېږي او ترې وېستل کیږي کم کړي.

4) د اقلیتونو له پاره به له لومړي تر درېیم ټولګي پورې زده کړې د هغوي په خپلو ژبو وي او د یادو ژبو ویونکي به په دې پړاو کې ورګډېږي.

## 4.د ښوونې او روزنې پوهنځیو لرونکو پوهنتونونو د ښوونکو روزنه

1) د نابینا او ناشنوا (نه لیدونکو او نه اورېدونکو) له پاره د لېسانس تر کچې اوسنی نصاب به هم د هر اړخیزو زده کړو د همغږۍ د تخنیکي ډلې په وسیله نوی شي.

2) د ماشوم له پاره د هر اخیز او په زړه پورې ښوونیز چاپېریال ښوونځي د مفاهیمو او اصطلاحاتو لېست دې چمتو شي.

3) د بدلون منل – د يوه مناسب ښوونيز چاپېرياль د رامنځته کولو له پاره به د ټوليزو زده کړو يو پروګرام پېژندګلوی ته وړاندې کړي.
4) له هغه ځايه چې د ښوونې او روزنې وزارت تر بکلوريا سويې پورې مسووليت لري، دا پاليسي د لوړو زده کړو وزارت سره شريک شي، ترڅو د عالي تحصيلاتو په نصاب کې هم د دغې پاليسی مسايل تر نظر لاندې ونيول شي.
5) د هغو پوهنتونونو د ښوونکو د ظرفيت د لوړولو له پاره، چې د ښوونې او روزنې پوهنځی لري يو پروګرام جوړ شي. ياد پروګرام به د يو شمېر ښوونکو او پروفيسورانو په وسيله د لکچرونو په وسيله چلول کېږي.
6) د ښوونکو ټول ښوونيز پروګرامونه به د هر اړخيزو زده کړو په کورسونو کې شامل وي.
7) هغه پوهنتونونه، چې د ښوونې او روزنې پوهنځي لري په تدريج سره به يې د ماسټرۍ پروګرامونه هم پيل شي.
8) د لنډ مهاله کورسونو درسي نصاب به د اشاري ژبې ښوونکو او ژباړونکو ته چمتو شي. ياد کورسونه به د هر اړخيزو زده کړو د همغږۍ د ډلې په زيار يادو ښوونکو ته د ښوونکي د روزنې د مرکز، دارالمعلمين او يا هم د هغو پوهنتونونو په وسيله، چې د ښوونکو د ښوونې او روزنې پوهنځي لري جوړ شي.

## 5. د ښوونکو روزنه (په ملي او سيمه ييزه کچه) همدا راز د نورو مرستندويانو په وسيله ښونيز پروګرامونه:

1) د هر اړخيزو زده کړو يوه بسته، ILFE چې د ماشوم له پاره د هر اړخيزو زده کړو او په زړه پورې ښوونځي مفاهيم به په کې وي چمتو شي او د ښوونکو د روزنې د مرکز په واک کې به ورکول شي.
2) د ښوونکو د روزنې د مرکز د ښوونکو د ظرفيت د لوړولو له پاره به يو هر اړخيز پروګرام چې د هر اړخيزو زده کړو او په زړه پورې ښوونيزو ښونځيو بسته به هم ورسره وي ILFE چمتو شي او د ظرفيت د لوړولو د بنسټيزو موادو په توګه به کار ترې واخيستل شي.
3) د ټولو هغو پروګرامونو، چې د ښوونکو پر روزنې بوخت دي او د ماشوم له پاره د هر اړخيزو او په زړه پورې ښوونځيو او نورو غړو ډلو تر منځ به د ښو اړيکو په موخه همغږي رامنځته شي.
4) د ښوونکو د روزنې په پروګرامونو کې به د هر اړخيزو زده کړو تولګي هم وي.
5) د ښوونکي په حيث، ټولو هغه کسانو ته چې د خاصو زده کړو د پوهنځی نه فارغېږي اولويت ورکړ شي.

## 6. له معلولو او نورو ځانګړو اړمنو زده کوونکو نه د ملاتړ سيستم :

1) د هغو کسانو د شمولیت او زده کړې له پاره، چې ځانګړي اړتیاوې لري د پوهنې وزارت تر مشرۍ لاندې د هر اړخیزو زده کړو د مرستو د همغږۍ د ډلې او هغو پوهنتونونو په مرسته، چې د ښوونکو د ښوونې او روزنې پوهنځي لري د یوه ملي مرکز جوړول او پرختیا. ښه به وي، چې دا مرکز لاندې ځانګې ولري: ADHD/ADD، اوتیزم، عقلي وروسته والی، د نه اوریدلو معلولیت، فزیکي معلولیت، په لوست او ویلو کې ستونزې، تولنیزې او احساسي ستونزې، لیدنی معلولیت او د بیړني تشخیص ځانګه. د دې مرکز اصلي دندې به په ولایتونو کې د یاد مرکز په څېر د نورو مرکزونو جوړول او په ولسوالیو کې یې ځانګې، له پوهنې او نورو وزارتونو سره تخنیکي مرستې، د ښوونکو د روزنې په برخه او نویو معلولو کسانو ته د زده کړې په برخه کې د ښوونیزو او درسي توکو په برخه کې مرستې او بله دا چې په ولایتونو او اړوندو ولسوالیو کې یې د ملاتړ د وېش کار.
2) په ۳۴ ولایتونو کې د اړمنو او ځانګړو زده کوونکو له پاره د پوهنې وزارت په اداري چوکاټ کې د ښوونیزو زېرمو د مرکزونو جوړول او پراخوالی. ښه به وي، چې دا مرکزونه لږ ترلږه ۳ تر ۴ پورې کارپوهان ولري، چې په اړوندو چارو کې له پوره معلوماتو او تخصص نه برخمن وي. یاد ښوونکي به ښوونکي ارزوي او د معلولو ماشومانو د مرستې له پاره به ورسره وخت ناوخت مرستې کوي.
3) په ۳۴ ولایتونو کې د هغو کسانو د شمولیت او زده کړې له پاره، چې ځانګړي اړیتاوې لري د پوهنې وزارت تر مشرۍ لاندې د هر اړخیزو زده کړو د مرستو د همغږۍ د ډلې او هغو پوهنتونونو په مرسته، چې د ښوونکو د ښوونې او روزنې پوهنځي لري د یوه ملي مرکز جوړول او پراختیا. ښه به وي، چې دا مرکز لاندې ځانګې ولري: ADHD/ADD، اوتیزم، عقلي وروسته والی، نه اوریدلو معلولیت، فزیکي معلولیت، په لوست او ویلو کې ستونزه ، تولنیزې او احساسي ستونزې، بصري معلولیت او ډول د بیړني تشخیص ځانګه. د ولایتي مزکزونو دنده به د ولسوالیو په کچه د یادو مرکزونو، ښوونکو او زده کوونکو ملاتړ وي.
4) په ولسوالیو کې د ملاتړیزه مرکزونو جوړونه او پراختیا: د ولسوالیو په کچه د هغو کسانو د زده کړې له پاره، چې ځانګړي اړتیاوې لري په ۴۴۵ ولسوالیو کې د پوهنې وزارت تر مشرۍ لاندې د هر اړخیزو زده کړو د مرستو د همغږۍ د ډلې او هغو پوهنتونونو په مرسته، چې د ښوونکود ښوونې او روزنې پوهنځي لري د یوه ملي مرکز جوړول او پراختیا. ښه به وي، چې دا مرکز لاندې ځانګې ولري: ADHD/ADD، اوتیزم، عقلي وروسته والی، نه اوریدلو معلولیت، فزیکي معلولیت، په لوست او ویلو کې ستونزې، تولنیزې او احساسي ستونزې، لیدني معلولیت او د بیړني تشخیص ځانګې جوړول او پراخول د ولسوالیو د ملاتړ ځانګو اصلي دندې دي، چې له ښوونکو او زده کوونکو سره به د کتابونو، د بریل خط او نورو ملاتړو توکو په وېش کې به مرسته کوي

مرکزونه جوړ او پراخ شي. د ولسواليو ځانګې به د ځينو پېچليو او همدا راز د مسلکي ظرفيت د لوړولو، څارنې او ارزونې له پاره له ولايتي مرکزونو نه مرستې غواړي.

## 7. په ټيټې بيې د کومکي وسايلو چمتو کول :

د معلولو ماشومانو، تنکيو ځوانانو او غټانو له پاره به په افغانستان کې دننه ملاتړوال به په ډېره لږه بيه جوړې او چمتو شي. په دغه برخه کې به د افغانستان پوهنتونونو د تخنيکي يا انجينرۍ پوهنځيو او همدا راز د (DPOs) او سيمه ييزو بنسټونو سره د مرستې هوکړې وشي. ټاکل شوې د غوږ د آلې جوړونې او د قالب اخيستنې چارې هم په کور دننه افغانستان کې ترسره شي.

## 8. د لوست ژبه

1) د بريل ملي مطبعه به درسي کتابونه او نور ښوونيز توکي چمتو کړي.
2) هغه ښوونکي، چې د اقليتونو په ژبه خبرې کوي، زده کوونکو ته به په مورنۍ ژبه زده کړه ورکړي.
3) د ۸۰۰۰ نښو په ګډون يو د اشارې ژبې قاموس به چمتو شي. همدا راز به د انځوريزې ژبې يو کتاب هم چمتو شي او په ټول افغانستان کې به خپور شي. دغه پروګرام به د کابل د ښوونې او روزنې د پوهنتون د ځانګړو زده کړو پوهنځي په مرسته او د هر اړخيزو زده کړو د همغږۍ د ډلې په وسيله جوړ شي.
4) د همغږۍ کاري ډله او پوهنې وزارت به په ښوونې او روزنې ټلوېزيون کې يوه د اشارې ژبې خپرونه توليد او خپره کړي.
5) د ښوونکو او د اشارې ژبې ژباړونکو ته به د ماسټرۍ يو درسي نصاب جوړ شي. دغه پروګرام به د کابل د ښوونې او روزنې د پوهنتون د ځانګړو زده کړو پوهنځي په مرسته او د هر اړخيزو زده کړو د همغږۍ د ډلې له لوري جوړ شي.
6) هر کال به د يوه پروګرام له مخې د ژبې ژباړونکي او ښوونکي د لېسانس تر کچې وروزل شي. د ژباړونکو او ښوونکو ټول شمېر به د اړتيا لمخې ۱۰۰۰ تنه وي. اړينه ده، چې په هر ولايت کې د اشارې ژبې دوه ښوونکي شتون ولري، څو د ولسواليو د ښونځيو د اشارې ژبو له ښوونکو او نور هغو کسانو سره چې په ورته خدمتونو بوخت دي، مرستې وکړي .

## د ماشوم له پاره د هر اړخیز او دوستانه زده کړې کیفیت:

د پوهنې وزارت په دې باور دی چې د ماشوم له پاره د هر اړخیز او په زړه پورې ښوونیز چاپېریال ښوونځي د ټولو زده کوونکو له پاره د زده ګړو د کیفیت په ښه والي کې تنوع رامنځته کوي. د همدې مرستندویانو په همغږۍ کې به زده کوونکي وکولی شي، د پوهې په برخه کې ښه وځلیږي. هر زده کوونکی د زده کړې له پاره خپلې ځانګړې وړتیاوې لري او له نورو زده کوونکو سره یې یادې وړتیاوې نورې هم ډېرېږي. نو له همدې امله د عادي زده کوونکي کړنې د یاد بهیر په وسیله نه یوازې دا چې کمزوری کیږي نه، بلکې پیاوړې کیږي هم. یاد شرایط د ټولنیز عدالت او مساواتو په برخه کې هم ځینې فرصتونه برابروي، چې د زده کوونکو په ګټه دي. ښوونکي هم کولی شي د یادو تجربو په پای کې د خپلو وړتیاوو په اړه د اعتماد حس پیدا کړي. د سیسټم تنوع د هر اړخیزو زده کړو په برخه کې مرستې کوي چې ځینې ټولنیز او ژبني مهارتونه هم لوړ شي.

## تنوع څه ډول د پیاوړتیا لامل ګرځي:

1. هر زده کوونکی کولی شي په یوازېتوب سره د بل زده کوونکي د زده کړې په برخه کې ګټور پرېوزي.
2. هر زده کوونکی په خپل وجود کې د قوت او همدا راز ځینې اړتیاوې لري.
3. ګټوره زده کړه د یوې موخې له پاره د همغږۍ هڅې وي.
4. ټولنیزه وړتیا او د اړیکو مهارتونه هله ښه تر لاسه کیږي، چې ګوښه او شړل شوي زده کوونکي د هر اړخیزو زده کړو په سیسټم کې، دننه کړو.
5. په روزنه کې د ستونزو د حل له پاره د بې برخو وروسته پاتې شویو زده کوونکو راګډول ځینې روزنیز فرصتونه او تجربې رامنځته کوي. چې کېدای شي پرته له هغې ترلاسه نه شي. په ځانګړي ډول د ټولنیز عدالت، تعصب، مساواتو او داسې نورو په برخه کې.
6. هغه زده کونکي، چې محرومه نه دي له محرومه زده کونکو سره په دې بهیر کې اړیکي پیدا کولی شي او دا اړیکي ګټورې پریوځي.
7. په ټولګي کې د محرومه زده کوونکو شتون د شته زده کوونکو د کمزورۍ لامل نه ګرځي.
8. ښوونکي د تجربو له برکته په خپلو وړتیاوو نور هم اعتماد پیدا کوي.

# دویمه برخه
# څارنه او ارزونه

## د ماشوم له پاره د هر اړخیز او په زړه پورې پالیسۍ څارنه او ارزونه :

د ماشوم له پاره د هر اړخیز او په زړه پورې ښوونیز چاپېریال د پالیسۍ څارنه او ارزونه؛په تفصیل سره تر بحث لاندې نیول کېږي .
وړاندیز کېږي چې د دغه سرلیک لاندې ټول مطالب د همغږۍ له برخې سره یو ځای ولوستل شي: ځکه دغه دواړه برخې له یو بل سره نږدې اړیکې لري.
لازمه ده چې دغه مفاهیم د ماشوم له پاره د هر اړخیز او په زړه پورې ښوونیز چاپېریال د پالیسۍ په رڼا کې درک شي خو له نورو پروګرامونو او پروژې سره باید ګډ نه شي .
دغه برخه هغه ابزار دي چې له مخې یې ډاډ تر لاسه کېږي چې د پوهنې په چوکاټ کې د حکومت له ځانګړو روزنیزو پروګرامونو او پروژو څارنه او ارزونه کېږي او په دې برخه کې د تصمیم نیونې د مکانیزم د ښه والي په موخه وزارت ته نظریې او وړاندیزونه وړاندې کېږي .
دغه پالیسي ډېرې پر ظرفیت جوړونې، لکه څنګه چې د افغانستان د روزنې د ملي استراتیژیک پلان په مسودې۱ او د معارف وزارت د ظرفیت جوړونې د پروګرام – د څارنې او اروزونې په چوکاټ کې تشریح شوې ده، تمرکز کوي. یاده پالیسي د جوړو شویو ظرفیتونو پر بنسټ د لاسته راغلو پایلو پر اهمیت ټینګار کوي.
د څارنې او ارزونې کلیدي اړتیاوې: معلومات او اطلاعات دي. دوه اصطلاوې ( څارنه او ارزونه ) : د پرېکړو د نیونې په موخه، له معلوماتو نه ګټه اخیستنه او د تحلیل راټولونې ته وایي.
په افغانستان کې د پوهنې وزارت د موثقو اطلاعاتو او معلوماتو له نه شتون سره مخ ده.
د موثقو معلوماتو او اطلاعاتو نه شتون یوه لویه ستونزه ده چې د سم پروګرام او پالیسۍ جوړونې په اړه د پرېکړو مانع ګرځي۱ .څارنیز فعالیتونه د ستراتیژیک پروګرام جوړونې او د منابعو د بسیج له پاره د پرېکړو زمینه برابروي (Osman I., 2002) ۱. "ارزونه" له سیستماتیکې څېړنې او د یوه پروګرام او یا هم پروژې له بشپړیدو سره، سر و کار لري .
بلاخره له کومه ځایه چې دغه پالیسي د حکومت ملکیت ګڼل کېږي، نو باید د پوهنې په سیستم کې له نورو پروګرامونو، ملاتړ کوونکو او ملي پالیسیو سره وتړل شي تر څو د حکومت د ورځنیو عملیاتي سیستمونو د پیاوړتیا لامل شي .

## څارنه

څارنه؛ د ورځنیو چارو مدیریت او د معلوماتو راټولو ته وایي. چې د یوه کار د پرمختګ څرنګوالی ښیي او همداراز هغه برخې چې ښایي سمونې ته اړتیا ولري، ښکاره کړي ۱ .
څارنه باید د پوهنې وزارت یو له ټل پاتې دندو نه وشمېرل شي. دغه دنده د ځانګړو شویو لګښتونو د پرمختګونو او د پایلو د لاسته راوړنو په اړه د عالي مقاماتو او کلیدي کارکوونکو د پوهاوي په موخه د ځانګړو شاخصونو د سیستماتیکو اطلاعاتو راټولونې باید راونغاړي .

## ارزونه

ارزونه؛ د یوه کار، پروګرام یا پالیسۍ د طرحې او ډیزاین، تطبیق او پایلو په ګډون سیستماتیکه او منصفانه څېړنې ته وایي.
د ارزونې موخه؛ د اړوندېدو تشخیصول، د موخو لاسته راوړل او همداراز د موثریت او مثمریت تامینول، د موخې د لاسته راوړو د اثراتو د کچې سنجش او ټل پاتې والی دی .
ښه ارزونه هغه ده؛ چې موثق او د ډاډ وړ معلومات تر لاسه کړي څو د ستراتیژیکو پرېکړو په برخو کې له وزارت سره مرستې وکړي .

د يادولو وړ ده، هر کله چې موجه دليل شتون ولري، نو کولی شو د ارزونې چارې د یوې پروژې د تطبيق په هر پړاو کې ترسره کړو .
د امکان تر کچې د ارزونې رپوټونه بايد له نورو پلي کوونکو شريکانو سره د چارو د ښه انسجام او د ستراتيژۍ د رعايت چې د پوهنې وزارت ټول روزنيز پروګرامونه د هغه پر بنسټ ولاړ دي، شريک شي . همداراز لازمه ده څو د ارزونې د رپوټونو اطلاعات د روزنيز مديريت په معلوماتي سيستمونو کې (EMIS) هم منعکس شي .

## د څارنې او ارزونې موخې

1. د څارنې او ارزونې د منل شوي سيسټم له لارې د کيفيت لرونکو زده کړو د برابرولو د چارو ګړنديتوب .
2. په هېواد کې د ټولو روزنيز پروګرامونو د څارنې او ارزونې په رڼا کې په هراړخيزو زده کړو کې د ظرفيتونو پراخول .
3. د هېواد په کچه د اطلاعاتو د تفسير او تحليل د راټولونې په موخه د همغږي ميکانيزمونو جوړول .
4. د پوهنې وزارت په ټولو روزنيزو او د خدمتونو د وړاندې کولو په برخو کې د پرېکړې کولو له پاره له راټولو شويو، تحليل شويو او تفسير شويو اطلاعاتو نه ګټه اخيستنه .
5. له اړوندو کليدی مراجعو او پراختيايي شريکانو او تمويل سره د چارو د روښتيا او د روزنې د اړتياوو له پاره د حساب او ځواب ورکونې په موخه د معلوماتو او اطلاعاتو شريکول .

## د څارنې اصول

د پوهنې وزارت د څارنې او ارزونې چوکاټ ( لومړۍ مسوده – ۲۰۱۰ جولای ) دغه برخې په ګوته کوي :

1. د پايلو له مخې مديريتي چارچوکاټ
2. د څارنې او ارزونې ابزار
3. د مديريت ترتيبات

چې د هر يوه شرحه يې په لاندې ډول ده:

### a) د پايلو له مخې مديريتي چارچوکاټ :

په دغه چارچوکاټ کې تر ټولو مهمې مسألې چې بايد پرې تمرکز وشي په لاندې ډول دي:

- په ريښتينې توګه د غوښتونکو پايلو تعريف؛
- د غوښتونکو پايلو د لاسته راوړولو پر لور د پرمختګ څارنه؛
- د مديريتي پرېکړو له پايلو نه ګټه اخيستنه؛
- او د اجراأتو له نحوې نه رپوټ ورکونه؛

په يوه عبارت سره، پوهنې وزارت د څارنې چارې د منطقي لړۍ له مخې داسې پر مخ وړي چې له ورکړ شويو (inputs)، فعاليتونو او بيا ورکولو نه پيلوي او په پايلو سره پايته رسېږي. اغېزمنتوب د دغې لړۍ په وروستۍ برخه کې ځای نيسي . په لاندې توګه ياده شوې لړۍ په سيستماتيک ډول سره ښودل شوې دی:

| | |
|---|---|
| اغېزمنتوب (کلي هدف) | • مثبت او منفي اوږد مهالې پایلې ؛ عمدي او غیر عمدي |
| پایلې | • د اقداماتو له امله د پام وړ تغییرات |
| بیا ورکړې | • د اقداماتو ، فعالیتونو او یا وړاندې شوو خدمتونو محصولات |
| کړه وړه | • د ورکړ شویو بسیج په پایلو کې شوي اقدامات او یا کارونه (inputs) |
| ورکړ شویو Inputs | • د فعالیتونو د اجرا له پاره تیار شوي مالي ، بشري او مادي منابع |

پوهنې وزارت له ساحې نه د راټولو شويو ټولو رسمي معلوماتو او تعليمي اطلاعاتو مسووليت پر غاړه لري . د معلوماتو او اطلاعاتو چارې په لاندې ډول وي .




## د څارنيزو فعاليتونو اساسي اړتياوې :

a) **لږ تر لږه د پايلو د شاخصونو ټولګه :** چې بايد څومره والی او څرنګوالی ( کميت او کيفيت) يې له هر يوه مشخصې شوې موخې سره سمون ولري .

b) **ظرفيت**: لازمه ده چې ظرفيت د څارنې د چارو له پيل نه څه موده وړاندې جوړ شي. که چېرې لازم ظرفيتونه نه وي، نو ښايي څارنه ډېره ستونزمنه ثابته شي . همداراز لازمه ده د څارنې او ارزونې د څانګې د شته کارکوونکو مهارتونه صيقل کړای شي څو د څارنيزو فعاليتونو د اجرأ کولو وړتياوې په بشپړه توګه لاسته راوړي .

c) **معياري پلان :** د يوه پلان په څېر اړينه ده څو د معلوماتو راټولونې او د اطلاعاتو تحليل چارې پر مخ يوسي. اړوند اطلاعات له لومړني او شته حالاتو سره يو ځای بايد په پام کې ونيول شي. دا ډېره مهمه ده چې ياد شوی پلان د اطلاعاتو د راټولونې بېلابېلې لارې، د رپوټونو د بيا کتنې طريقې، د يوه ساحوي سفر د رپوټ ورکونې نحوه او په ساحه کې د سروې د څرنګوالي چارې راونغاړي

d) **مسؤوليتونه** :لازمه ده د څارنې او ارزونې چارې، مسووليت منوونکو خلکو له پاره ډېزاين شي. په دې ترتيب سره به د حساب ورکونې او روڼتيا تضمين شي. همداراز ځانګړې شوې بودجه بايد په معياري پلان کې ځای پر ځای شوې وي، څو له پلان شويو فعاليتونو نه هېڅ يو له پلي کېدو نه پاتې نه شي .

e) **رپوټ ورکونه:** رپوټ ورکونه د څارنې د سیستم د پیاوړتیا لامل کیږي؛ څو لوړ پوړي چارواکي د ترلاسه شویو معلوماتو په پام کې نیولو سره وکولی شي په وخت سره پریکړې وکړي. اصلاحي پریکړې هم د رسېدلو رپوټونو په پام کې نیولو سره، نیول کیږي
.

f) **بیا کتنې:** دا تل یوه مدبرانه ګام دی چې ټول کارکوونکي په کال کې یو یا دوه ځلي سره راټول شي، د پروګرامونو د پلي کېدو څرنګوالی او پرمختګ او همداراز پر راتلونکو پلانونو غور او بیا کتنه وکړي. یوازې د بیا کتنو له لارې کېدلی شي د روزنې د پروګرامونو ټولې بسنې تحلیل شي. همداراز بیا کتنې ملاتړ کوونکو مراجعو ښه معلومات برابروي.

## د ارزونې اصول:

ارزونه د یوه کار، پروګرام او یا روانې یا بشپړه شوې پالیسۍ، طرحه او ډیزاین، پلي کولو او د پایلو منصفانه او سیستماتیکه څېړنې ته وایي. د ارزونې اساسي موخه؛ د دې معلومول دي چې ایا دغه پروګرام، پالیسي، د پلي کولو بهیر او پایلې سره اړوند دي؟ او پر هغو هڅو چې شوي ارزي که نه؟
په ارزونه کې د موخو لاسته راوړنې د پام وړ دي او همداراز موثریت، مثمریت او تاثیرات ټولیزه موخه سنجوي. بالاخره، د شویو کارونو بقا او تل پاتې توب هم د ارزونې په بهیر کې تر غور لاندې نیول کیږي .

## لنده دا چې ارزونه دغو پوښتنو ته ځوابونه وایي:

1. ایا پالیسي کار ورکوي؟
2. ایا موخې تر لاسه شوي دي؟ څنګه تر لاسه شوي دي؟
3. ایا چارچوکاټونه عقلاني یا لاګ فریمونه سم سنجول شوي ول؟
4. د پلي کولو بهیر څه ډول و؟
5. کوم څېزونه د پالیسیو، پروګرامونو او یا هم د پروژو د بریالیتوب لامل شول؟
6. کوم څېزونه د نه بریالیتوب لامل شول؟
7. څه اصلاحات راوستلی شو؟
8. ایا پروګرامونه د پراختیایي ملي پلانونو سره همغږي دي؟

ارزونه باید د مدیریت له پاره یوه مهمه وسیله وشمېرل شي. ارزونه؛ چارواکي دې ته هڅوي څو خپلې کړنې بیا ځلي تر سترګو تېرې کړي، پریکړې وکړي، له تجربو نه درس واخلي او د خپلو کړنو پر وړاندې ځواب ویونکي واوسي. په اجراأتو کې ښیګڼه په اصل کې

د ارزونې لمخې څرګندېږي. ارزونه د حساب ورکونې یوه وسیله هم ده او دا څرګندوي چې د څارنې او ارزونې بودجه څه ډول لګول شوې ده، پروګرامونه تر کومې کچې اغېزمن دي او بلاخره، راتلونکي پلانونه هم له ارزونې نه سرچینه اخلي.

## لاندنی  دیاګرام د لاګ فریم د تمرکز ساحې په ګوته کوي .




## د ظرفیت تثبیت :

پوهنې وزارت د خپلې، د ځارنې او ارزونې ظرفیت له لاندنیو لارو تثبیتوي .

1. د وزارت په چوکاټ کې د ځارنې او ارزونې د یوې اداري جوړېدل: دغه اداره به پوره او مسلکي کارکوونکي ولري چې د اطلاعاتو د راټولونې، طی مراحل، تحلیل او ریپوټ ورکونې

مسوولیت پر غاړه ولري . د ځارنې او ارزونې کارکوونکي د چارو د پرمخ بیولو له پاره به له لازمو مهارتونو نه برخمن وي .

2. د سرچینو مشخصول: دغه سرچینې به نقلیه وسایط، کمپیوټرونه ( هارډ ویر او سافت ویر) او نور پرله پسې لګښتونه رانغاړي .
3. د ظرفیتونو پیاوړي کول: د اطلاعاتو ګرندي راټولونې او لیږلو په موخه په ولایتونو او ولسوالیو کې د ظرفیتونو پیاوړي کول.

## دریمه برخه، صرفه جویي

# دریمه برخه

# صرفه جویي/ اقتصادي عمل کول

## د ماشوم دوستانه او هراړخیزه ښوونځیو کې سپما کول

د دغې برخې په سر کې څو پوښتنې مطرح کېږي. د ساري په توګه؛ ایا زده کړه مهمه ده؟ ایا پیسې په روزنیزو پروګرامونو کې کوم بدلون رامنځته کوي؟ یو هېواد څه ډول پر خپل روزنیز سیستم باندې پانګونه وکړي، څو د تولنیز، سیاسي او د اقتصاد د پیاوړي کېدو غوښتنو ته یې ځواب ویلي وي؟

د هېواد په بېلابېلو برخو کې روزنیزه بودجه تر کومې کچې په عادلانه او مساویانه توګه ځانګړې او وېشل کېږي؟ تر کومې اندازې د ځانګړو شویو بودجو پر وړاندې حساب ورکونه موجوده ده؟

دغو پوښتنو ته د ځواب وینې په موخه دولت باید پر هغه څه چې باوري دی، تأمل وکړي او د خپلې ژمنې میزان په حقوقي شته چارچوکات کې د خپلو هېوادوالو له پاره د روزنیزو فرصتونو پر برابرولو غور وکړي .

د دغې عقیدې او د افغانستان اسلامي جمهوریت د ژمنې بنسټ د اسلام د ستر پیغمبر حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) مرغلرې دي چې په یو شمېر حدیثونو کې د تعلیم او تحصیل پر اهمیت یې ټینګار کړی دی. حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) فرمایي:

( د حدیث شریف د مضمون، ژباړه )

**" له زانګو تر ګوره زده کړه وکړه "**؛ همداراز فرمایلي دي: **" څوک چې خپل ژوند علم ته ځانګړی کړي، نو هغه به هېڅکله هم ونه مري ."**؛ په بل ځای کې د اسلام ستر پیغمر (صلی الله علیه وسلم) خپل اُمتیان داسې هڅوي : **"علم زده کړئ . علم خپل خاوند په دې پوهه وي؛ څو حق او باطل سره تفکیک کړي، علم د اسمانونو پر لور لاره روښانه وي، په بېدیا کې مو همدم دی، په یوازېتوب کې مو ملګری دی، کله چې ملګری ونه لرو، نو دا له موږ سره وي، موږ سوکالۍ ته کاږي ، په مصیبتونو کې زموږ مرسته کوي، د دوستانو په منځکې زینت دی او د دوښمنانو پر وړاندې زره [8] "**

د کم لګښتي روزنیزو پروګرامونو په اړه لکه د نورو موضوعاتو په څېر څېړنې نه دي شوې . څېړونکي ادعا لري چې د لګښتونو په اړه لړه پاملرنه شوې، خو په دې اړه چې څنګه کېدای شي پایلې له لګښت نه ډېر کړای شي، ډېره پاملرنه شوې ده ۲ (Belfield C. And Leven H. M. 2013) .

په دې برخه کې نور څېړونکي لکه ارنستو شیفلبین و لاورنس ولف ۳ (۲۰۰۷) ادعا لري په داسې حال کې چې تحصیل په پراخه کچه د اقتصادي مسایلو د حل کیلي ګڼل کېږي او د دولتونو او نړی والو مؤسسو له لوري د پوهنې پر سکټور پانګونه د پراختیا په حال کې ده، د پوهنې د پروګرامونو د ننې علم، د کم لګښتي کېدو له پاره هڅې په بشپړه توګه ناکافي دي؛ په ځانګړې توګه هغو لویو بودجو ته چې د پوهنې سکټور له پاره بیلیږي .

## صرفه جویي/ اقتصادي کړنه

د سوداګری له نظره، صرفه جویي د لګول شویو پیسو او لاسته راغلو پایلو تر منځ اړیکو ته وایي. د ساري په توګه هغه پیسې چې پر سوداګریزو اعلانونو لګول کېږي نو د خرڅلاو د ډېروالي او له هماغه تولیدي محصول نه د لاسته راغلو عوایدو په تناسب کې وي ۲.

د دغه تعریف له مخې، کولی شو ووایو: په یوه روزنیز پروګرام کې هغه مهال صرفه جویي شوې چې له زیاتو پیسو له لګولو پرته ښې پایلې لاسته راوړل شي. د دې له پاره چې پوه شو په یوه

[8] د حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) حدیثونه http://www.twf.org/Sayings/Sayings4.html#Learning

پروګرام کې صرفه جویي شوې که نه؟ نو لازمه ده څو د لګښتونو تحلیل وشي. دغه ډول تحلیل ته صرفه جویي تحلیل او یا هم اقتصادیتوب (CEA) وایي.
صرفه جویي تحلیل یو ډول اقتصادي تحلیل دی چې د دوو یا له دوو د زیاتو پروګرامونو لګښتونه او پایلې سره پرتله کېږي او دا پټیل کېږي چې د یوه پروګرام پایلې له ځانګړو شویو سرچینو سره مقایسه شي. (Belfield C. and Leven H. M. (ibid).
موخه دا ده چې له پرېکړه کوونکو چارواکو سره مرسته وشي، څو پر دې پوه شي چې کوم پروګرام اغېزمن دی او کوم یو یې نه دی .
هر کله چې یو پروګرام اغېزمن وي نو کولی شو ډېرې ځانګړې سرچینې ورته توجیه کړو. د دغې له مخې، پوهنې وزارت هغه روزنیز پروګرامونو ته لومړیتوب ورکوي چې د محرومو( بې برخو) ماشومانو اړتیاوې برابرې کړي.
د علتونو او لاملونو په نه پام کې نیولو سره او هغه ماشومان چې له ښوونځیو نه لرې پاتې دي، په شرط د دې چې کیفیت راټیټ نه شي .
له دې سره سم، پوهنې وزارت د روزنیزو خدمتونو د وړاندې کولو په برخو کې د پوهنې او اساسي قانون له مخې د حکومت له ژمنو هم خبر دی .

## له اقتصادي والي نه غرض:

د پوهنې د کیفیت د ښه والي له پاره د افغانستان د معارف سکټور او د نړۍ وال بانک د دویمې پروژې د ګټو او لګښتونو تحلیل: ( د پروژې ګټې MoE April 29, 2013 Ref. No: MoE/CS/EQUIP/CQS-21) د لګښتونو د ګټو موخې په لاندې ډول بیانوي:

1. ښوونه او روزنې ته په مساویانه توګه د لاسرسي لوړاوی: په دغه سند کې پرته له دې چې جنسیت، جغرافیایي موقعیت او اقلیت پورې د تړاو مسله مطرح شي، په یوه روزنیز رسمي پروګرام کې د شاملېدو او بشپړولو له پاره د یوه فرصت په توګه په مساویانه ډول لاسرسی، تعریف شوی دی. نو روښانه ده چې د ماشوم له پاره د هر اړخیز او په زړه پورې ښوونیز چاپېریال په دې برخه کې د منلو وړ دی.

### د زده کړو د کیفیت ښه والی:

a. مناسب او مصوونه روزنیز چاپېریال؛
b. هغه ښوونکي چې په خپلو ځانګو کې وړتیا ولري او ګټور درسي میتود؛
c. د روزنې او تدریس له پاره کافي او اړوند مواد ؛
d. ټولګي چې د زده کوونکو شمېر په کې متوسط وي او د ښوونکو او زده کوونکو تر منځ تناسب مراعات شوی وي .

**۲. د خدمتونو د وړاندې کولو ښه والی:** د خدمتونو وړاندې کول د پوهنې وزارت د ظرفیتونو ملاتړیزه سیستم ته وایي: چې په ټول افغانستان کې د مالي، تدارکاتو، بشري منابعو او همداراز په پالیسۍ او پروګرام جوړونې کې د معلوماتو مدیریت له مخې، کیفیت لرونکي او منصفانه زده کړې وړاندې کول دي .

د خدمتونو د وړاندې کولو په برخه کې پانګونه یو ښه کار دی. په هر صورت، حکومت پر دې پوهېږي چې زده کړه د ټولو ماشومانو او لویانو اساسي حق دی او د ډېموکراتیک او ټولنیز مشارکت په بهیر کې د ګډون له پاره یو شرط دی [9] NESP.
تل ویل کېږي چې زده کړه د یوه هېواد د اقتصادي ودې له پاره د اړتیا وړ بشري منابعو، د پراختیا اساس جوړوي او کولی شي د بې وزلۍ په کموالي او همداراز د سولې او وحدت په ټینګښت کې ګټور پرېوځي. دغه ریښتینولي عامو وګړو ته داسې دلایل په لاس ورکوي چې له مخې یې زده کړه د ټولو له پاره غواړي .
پام وکړئ چې دا بحث د لګښتونو د ګټو له پاره دی، نه اقتصادي والي له پاره، که څه هم دواړه اصطلاحات له یو بل سره نږدې اړیکې لري. په دغه پالیسۍ کې د اقتصادي والي موخې په لاندې ډول دي .

1. د روزنیزو پروګرامونو د پلي کېدو په برخو کې د وړاندیز شویو اقداماتو له ډلې نه د لومړیتوبونو په ټاکنه کې د پوهنې وزارت له پالیسۍ جوړونکو چارواکو سره مرسته .
2. د اقتصادي والي تحلیل او د بېلابېلو اقداماتو اټکلیز لګښت.
3. د پایلو له مخې، د روزنیزو پروګرامونود لګښت څارنه او ارزونه.
4. د روزنې په شته چوکاټ کې د ماشوم له پاره د هر اړخیز او په زړه پورې ښوونیز چاپېریال د اساسي برخو ټاکنه او ټولو ماشومانو ته د ښو خدمتونو د وړاندې کولو هڅې، چې ځانګړو روزنو ته اړتیا لري .
5. د ماشوم له پاره د هر اړخیز او په زړه پورو زده کړو چاپېریال له پاره د دولت له لوري د کافي بودجې د ځانګړي کولو پاملرنه .

## د لګښتونو تحلیل :

له هغه ځایه چې د اقتصادي والي موخه د ستراتیژۍ د باالقوه اقداماتو درکول دي، نو د دغې پالیسۍ له پاره لازمه ده، څو هغوي په یوې مناقصه کې تحلیل کړي څو د هر یوه اقدام له پاره د لګښتونو د تحلیل مېتودونه رامنځته کړي. له دې سربېره ډېره به مهمه وي، چې شته امکانات د حکومت د کورنیو عوایدو او همداراز نورې ملاتړیزې سرچینې لکه نړۍ وال بانک، نړۍ وال غیر حکومتي مؤسسې او د ملګرو ملتونو له ادارو سره وکتل شي .

د لګښتونو د تحلیل اصلي موخه دا ده؛ چې د هر یوه اقدام لګښتونه په اټکلیزه توګه معلوم شي. له حکومت سربېره نورې ادارې لکه؛ د ملګرو ملتونو د ټولنې ادارې، نړۍ والې غیر حکومتي موسسې او غیر حکومتي ملي یا سیمه ییزې موسسې هم شته چې د زده کړو په چارو کې کار کوي .
لازمه ده، یادې ادارې تر څېړنې لاندې ونیول شي څو معلومه شي، چې د هغوي پوهنیز پروګرامونه تر کومې کچې د ځانګړي تحصیلي اړتیاوې ماشومان او معلول ماشومان تر خپل پوښښ لاندې راولي .
کله چې دا کار وشو، نو تر دې وروسته د پوهنې وزارت پالیسۍ جوړونکي او پرېکړه کوونکي چارواکي به وکولی شي څو اټکل وکړي چې څومره کار د دوي پر غاړه پاتې دی، څو له مخې یې لازمې اړتیاوې تر لاس لاندې ونیسي .

[9] د افغانستان له پاره د روزني ملي ستراتیژیک پلان (1389 – 1393) صفحهٔ 134

## د زده کړې د کچې د لوړوالي په موخه، د اقتصادي اقداماتو له پاره ستراتیژي:

په دې برخه کې د بېلابېلو اقتصادي اقداماتو له پاره یو شمېر ستراتیژۍ تر څېړنې لاندې نیسو، چې کولی شي د زده کړې د کچې د لوړوالي د هر اړخیزو زده کړو پروګرام په چوکاټ او د ماشوم له پاره د هر اړخیزو او په زړه پورې زده کړو ښوونیز چاپېریال په ښوونځیو کې ترې ګټه واخیستل شي .

### 1. په لومړنیو ټولګیو کې د غوره ښوونکو ګمارل:

په لومړني پوهنیز پړاو کې د غوره ښوونکو ګمارنه؛ د ساري په توګه د ماشومانو له پاره په لومړیو کلونو کې د تعلیمي او انکشافي پروګرامونو جوړونه (ECED) او د ښوونځي له لومړي تر دریېم ټولګي پورې کېدای شي د یوه ټینګ بنسټ د جوړولو په موخه له ماشومانو سره مرستې وکړي .

دغه چاره د ښوونکو د روزنې پلان شویو ښو پروګرامونو، سیمې پورې اړوند د درسي موادو برابرول، د بومي پوهې د تر لاسه کولو له پاره هڅونه او په پوهنیزو پروګرامونو کې، د خلکو ګډون ته اړتیا لري .

### 2. د رسمي ښوونځیو د تعلیمي کال له پاره د پروګرامونو جوړونه :

ډېری وخت د زده کړې پر مهال د زده کوونکو ډېر وخت د کال په اوږدو کې د یوه ځانګړي تعلیمي پروګرام د نه شتون له امله ضایع کېږي. لازمه ده یو ځانګړی مهالوېش جوړ شي څو روښانه شي، چې د یوه ماشوم درسي ساعتونه په جدي توګه رعایت کېږي.

د دغه ډول مهالوېش د نه شتون په صورت کې ډېر ساعتونه پر دې ضایع کېږي چې ماشوم څه وخت باید ښوونځي ته ولاړ شي او څه وخت بېرته کور ته راشي. په پایله کې پر اجراأتو او همداراز پر هغو منابعو چې ښوونځیو ته ځانګړي شوي، منفي اغېز کوي .په لنډه توګه باید ټول ښوونځي خپل کلني رسمي تقویم په جدي توګه په پام کې ونیسي .

### 3. د ښوونځیو د حاضرۍ د پالیسۍ تنظیم :

لارښوونه کېږي چې ټول زده کوونکي باید په منظم ډول ښوونځي ته حاضر شي. البته د ښوونځیو د حاضرۍ د پالیسۍ په پلي کېدو کې ډېرې ستونزې شته، خو د امکان تر کچې باید د ښوونځیو د حاضرۍ پالیسي ښه تنظیم شوې وي، څو دا روښانه شي چې ماشوم د څومره وخت له پاره په ښوونځي کې و .

د یادولو وړ ده چې د ښې حاضرۍ لرل په ښوونځي کې د زده کوونکي د عالي اجراأتو په مانا نه ده، خو په هر صورت ښوونځي له غوره ښوونکو، ښو منابعو لرونکو او د زده کوونکو د مور او پلار د ښې ونډه اخیستنې له امله به ښې پایلې له ځانه سره ولري .

له بل لوري خرابه حاضري کولی شي د کمزوره تدریس او یا هم د کافي منابعو پر نه شتون دلالت وکړي .

### 4. هر ښوونځي له پاره په منصفانه توګه د ښوونکو تخصیص ځانګړی کول :

دا چې د ښارونو په ښوونځيو کې له اړتيا نه ډېر ښوونکي شته دي، نو دا په خپله په کليو او بانډو کې د ښوونځيو پر ښوونيز( تعليمي) پروګرامونو ناوړه اغېزه کوي.
ډېری مهال په کليو او بانډو کې ښوونځې له کافي ښوونکو نه بې برخې وي، دا خو لا لرې ده چې په کې مجرب او غښتلي ښوونکي وي .
په حقيقت کې د کليو او بانډو د ښوونځيو زده کوونکي د ښاري ښوونځيو په پرتله ضعيفې پايلې تر لاسه کوي . دغه معضله هغه مهال حل کېدای شي چې روزل شوي ښوونکي په منصفانه توګه د هېواد په بېلابېلو ښوونځيو کې وګمارل شي.
له بل لوري د نجونو په ښوونځيو کې ډېرو ښځينه ښوونکو ته اړتيا شته .

## 5.د ښوونکو له ادلون او بدلون نه مخنيوی :

که څه هم په افغانستان کې ښايي داسې نه وي. ( ندرتاً په ښاري ښوونځيو کې دا کار کېږي) اما حقيقت دا دی چې له يوه ښوونځي نه بل ښوونځي ته د ښوونکو ادلون بدلون، پر زده کوونکو ناوړه اغېز کوي. کله چې يو ښوونکی بدلېږي، له يوې خوا زده کوونکي چې ياد شوي ښوونکي ورته درس وايه، له لاسه ورکوي او له بل لوري ښايي دغه ښوونکی په نوي ښوونځي کې خپله روحيه له لاسه ورکړي. ښايي د نوموړي ښوونکي کړنې په نوي ښوونځي کې له معيارونو سره برابر نه وي .
هر کله يو ښوونکی لږ تر لږه درې کاله په يوه ښوونځي کې پاتې شي او تبديل نه شي، د تبديلۍ لګښت به راکم شي. خو په هر صورت، که چېرې تبديلي د امنيتي، صحي، ترفيع او نورو لاملونو له مخې وي، دواړه لوري کولی شي هوکړې ته ورسېږي.

## 6.د کال په منځ کې د ښوونځيو د مديرانو له تبديلۍ نه مخنيوی :

د يوه ښوونځي د مدير بدلول کولی شي پر ښوونځي ناوړه اغېز وکړي. دغه کړنه روښانه، نا مطلوبه اثرات لري. د هغه ښوونځي چې مدير يې بدلېږي، د نوموړي د ځای ناستي د موندنې له امله له ستونزو سره مخېږي او هغه ښوونځی چې دغه مدير ورځي ښايي د نوموړي د مديريتي څواکمنتيا، ښوونکو، زده کوونکو او د زده کوونکو کورنيو ته د پاملرنې له امله د نوموړي کړنو ته د شک په سترګه کتل کېږي.

## 7.د والدينو او ښوونکو د ټولنو جوړول

د زده کوونکو د مور او پلار او ښوونکو تر منځ همغږي د دې لامل کېږي څو د زده کوونکو روزنيزو اړتياوو ته ډېره پاملرنه وشي. د اقتصادي والي دغه برخه د ښوونځي پر نورو سيستمونو باندې نېغ په نېغه اغېز کوي . که چېرې د زده کوونکي کورنۍ له ښوونځي سره نږدې اړيکې ونلري نو نامطلوبه پايلو ته بايد په تمه واوسي.

## 8.په ښوونځي کې د نظم او دسپلين ساتنه د بې نظميو مخنيوی کوي

په ښوونځي کې د دسپيلن شتون د سيستماتيکو زده کړو د پياوړتيا، د ښوونکو او زده کوونکو د خلاقيت او د زده کوونکو د کورنۍ او د ټولنې د ملاتړ د راجلبولو لامل کېږي.

## 9.په ښوونځي کې د غونډو جوړونه

دغه ډول غونډې کېدای شي په علمي، لوبو، ټولنيزو چارو، کرهنې او په نورو برخو کې د سياليو د ترسره کولو له امله رامنځته شي. په ښوونځيو کې د غونډو جوړونه سربېره پر دې چې د خلکو د پاملرنې وړ ګرځي له ښوونځي سره د مرستې په موخه د مرسته کوونکو او نورو سوداګرو پام هم ور اوړي، چې د ښوونځي د لګښتونو د راکمولو لامل کېږي. همداراز د دغه ډول محفلونو او غونډو جوړونه د ښوونځي د عمومي فضا په ښه کولو کې هم مرسته کولی شي .

## 10. په بوختوونکو (کسبه کاري) فعاليتونو کې د ښوونکو او زده کوونکو ګډون

په هغه ښوونځيو کې چې ښوونکي او زده کوونکي د ځينو محصولاتو د توليد او خرڅلاو په موخه سره راټولېږي، نو د ښوونځي په لګښتونو کې د پام وړ کمښت راځي او په ورته وخت کې، د دوي د توليدي مهارتونو کچه هم لوړېږي.

## نورې ستراتېژۍ چې کېدای شي په پام کې ونيول شي : ( که څه هم لږ ستونزمن دي).

- د تجهيزاتو برابرول؛ لکه کمپيوټرونه، د لابراتوار وسايل او نور .
- په ښوونځيو کې د تغذېې پروګرامونه، په ځانګړې توګه هغو ماشومانو ته چې کوچيان او يا هم بې وزلو کورنيو پورې اړوند دي .
- د ښوونځي ساعتونو غځول، په کوم ځای کې چې امنيتي ستونزې نه وي.
- په هر ټولګي کې د لږو زده کوونکو لرل .
- د ښوونکو د معاشونو لوړول او د مسلکي پروګرامونو له لارې د هغوي د مهارتونو لوړول .
- د ښوونکو او زده کوونکو د ټاکنې له پاره د غوره معيارونو وضع کول.
- ټولو زده کوونکو ته د کتابونو برابرول .
- په ښوونځيو کې د وړو کتابتونونو جوړول.
- د ښوونځيو د تعليمي کال غځول .
- د لږ لياقت لرونکو زده کوونکو له پاره د رسنيزو پروګرامونو جوړونه .
- د ماشومانو له تعليمي حقونو نه د ساتنې په موخه د قوانينو او ټوليزو پاليسيو جوړونه .

د دغه پاليسۍ د پلي کولو له پاره، پوهنې وزارت بايد د هر اقدام پايلې چې غواړي په عمل کې يې پلې کړي، وسنجوي او بيا د ښو پايلو په موخه د اصلاحاتو له راوړو وروسته په لږ لګښت سره عمل پرې وکړي.
د دغې موخې د لاسته راوړلو له پاره، پوهنې وزارت د خپلې ستراتېژۍ په موخه د اړتيا وړ اطلاعاتو د راټولونې له پاره به يو سيستم جوړ کړي .
د ساري په توګه؛ د پوهنې وزارت کولی شي شته منابع، د روزل شويو ښوونکو شمېر، په ټول هېواد کې يې موقعيت، د معاشونو کچه او د هغوی د اجراأتو اغېزمنتوب روښانه کړي.
معمولاً په ټوليزه توګه د يوه هېواد کړنې د لومړنيو يا ثانوي زده کړو په پای کې هغه هم هغه مهال چې ټول نوماندان په يوه ملي آزموينه کې شامل شي، څېړل کېږي.
د اجراأتو سنجونه په وړه کچه په ښوونځيو کې هم ترسره کېدای شي خو نبايد د هغو زده کوونکو پر وړاندې وکارول شي چې ځانګړي روزنيزې زده کړې کوي. د هغو زده کوونکو چې ځانګړو روزنې ته اړتيا لري، يا معلوله او يا هم زيانمنونکي دي، کېدای شي د ارزونې له نورو لارو چارو نه ګټه واخيستل شي.

## د تعليمي اقداماتو توکي

### 1. د کارکوونکو خدمتونه

د کارکوونکو د خدمتونو برخه د پوهنيزو پروګرامونو د وړاندې کولو په څانګه کې تر ټولو اساسي برخه ده. په دې برخه کې ګمارنه، په ښوونځيو کې روزنه او د ښوونکو ګمارل او په دوامداره توګه د هغوي د مسلک غورونه شامليږي.
تر کومه ځايه چې د ماشوم له پاره د هر اړخيز او په زړه پورې ښوونيز چاپېريال موضوع مطرح ده، نو لازمه ده چې د ښوونکو له پاره پر ښو امتيازاتو فکر وشي؛ ځکه دوي ځانګړي خدمتونه کوي چې ورته يې ځانګړې روزنه هم ليدلې ده. د ښوونکو روزنه ډېر وخت نيسي او که چېرې د هغوي د ساتنې له پاره اساسي فکر ونه شي نو په ډېرې اسانۍ سره به له لاسه ووځي .

په ډېرو هېوادونو کې چې ښوونکو يې ځانګړې زده کړې کړي وي، حقوق او امتيازات يې د نورو عادي ښوونکو په پرتله لږ ډېر وي. د ښوونکو د روزنې پروګرامونه کېدای شي په دوو برخو يعنې؛ له خدمت نه وړاندې او په خدمت کې دننه، روزنو باندې ووېشل شي. په دې ترتيب سره به د ماشوم له پاره د هر اړخيز او په زړه پورې ښوونيز چاپېريال له پاره د کافي شمېر ښوونکو له لرلو نه به ډاډ تر لاسه شي

## 2. امکانات :

د افغانستان په کليو او بانډو کې ډېر ښوونځي په سيمې پورې تړل شوي. دغه ډول ښوونځي معمولاً په بېلابېلو سيمو کې په ډېرو لږو امکاناتو سره دي. په هر حال دا هغه ستونزې دي چې د دغې برخې په سر کې ورته اشاره وشوه او سترګې پرې نه شي پټېدلی.
د دې له پاره چې دغه پاليسي په يوه کارنده سند بدل شي، لازمه ده هر يوه ښوونځي ته معياري امکانات او اسانتياوې برابرې کړای شي چې په کې به درسي ټولګي، هلکانو او نجونو له پاره جلا جلا تشنابونه او روزنيز او تدريسي مواد وي.

## 3. وسايل او تجهيزات :

هغو ماشومانو ته چې د معلوليت له امله د زده کړې په برخه کې له بېلابېلو ستونزو سره مخ دي، ملاتړيزه ارزان بيه وسايل برابر کړای شي. دغه وسايل د معلوليت اندازې، بيې، د اړمنو زده کوونکو شمېر او له هغې نه پر ګټې اخيستنې تړلي دي .
د اشاري ژبې قاموس مواد، يوازې يو ځلي توليدېږي. البته دغه کار زيات لګښت ته اړتيا لري، خو مهمه دا ده چې د اشارې نښې په جامع او هر اړخيزه توګه جوړې شي.
د بريل ليک د لوستونکو اړتيا وړ تجهيزات کېدای شي د بريل له ملي مطبعې نه لاسته راوړل شي او همداراز فزيکي معلولو زده کوونکو له پاره ملاتړيزه وسايل کېدای شي په فزيوتراپي ځانګه کې د اړتيا له مخې، جوړ شي.

## 4. تدارکات :

تدارکات د حکومت او يا نورو تعليمي خدمتونو وړاندې کوونکو له پاره يو له دوامداره کړو وړو څخه شمېرل کېږي. د هغو لګښت د ماشومانو د شمېر لمخې، سنجول کېږي چې ترې ګټه اخلي. بيا هم وايو: داسې ونه انګېرل شي چې د دغه کار لګښت لوړ دی، ځکه د ماشوم معلوليت داسې څېز نه دی چې د هرې ورځې په تېرېدو سره زيات شي. يوازې په استيثناأتو کې.

## 5. نور خدمتونه :

په دې برخه کې لارښوونې او د سلا مشورو ورکړه، د ښوونيزو سرچينو د مرکزونو او خونو برابرونه، په ښوونځيو کې د کتابتونونو جوړول، د تشخيص خدمتونه او د ګمارنې په موخه ګړندي اقدامات شامل دي . دغه خدمتونه کېدای شي د يوه ښوونځي په سطحه هم برابر شي .
د تشخيص او ګړندي اقدامات کېدای شي د منابعو په مرکزونو کې ترسره شي. له دغې لارې کولی شو کورنيو ته لارښوونه وکړو، چې څنګه د کورنيو تعليمي پروګرامونو له لارې د خپل ماشوم له معلوليت سره مبارزه وکړي. غير حکومتي موسسې او نړۍ واله ټولنه بايد د دغه ډول خدمتونو وړاندې کولو ته لازمې تابياوې

ونيسي؛ خو په همدې حال کې حکومت هم باید ځان چمتو کړي، کله چې نړۍ واله ټولنه له افغانستان نه وځي، دغه مسوولیت پر خپله غاړه واخلي .
په پایله کې کولی شو ووایو: د تعلیمي پروګرامونو لګښت یوه ساده موضوع نه ده بلکې یوه جامع مېکانیزم ته اړتیا لري چې له تداوم، کیفیت او تل پاتې توب نه ډاډ تر لاسه شي. دغه ډول مېکانیزمونه کېدای شي، دې ته ورته پالیسیو له لارې جوړ او رامنځته شي .
د حکومت هر ډول تعلیمي پالیسي د تعلیمي ملي ستراتېژیک پلان او د تعلیمي ملي موخو تر عنوان لاندې جوړېږي. دغه پالیسي، خپل ځواک له دولتي اسنادو چې دلته یې ذکر وشو، لاسته راوړي. په دې برخه کې د اقتصادي والي دتحلیل پر موخو، د لګښتونو د تحلیل پر دلایلو او پر اقتصادي ستراتېژیو باندې بحث شوی دی .
دغه برخه دعمل پر ځینو ستراتېژیو په بحث کولو سره، چې د ټولو موخه د پوهنې وزارت له تصمیم نیونکو او پالیسو جوړونکو سره مرسته کول دي، څو د ماشومانو تعلیمي اړتیاوو ته ځواب وایي، پای ته رسېږي.

# څلورمه برخه

# د ظرفیت لوړاوی

### د ظرفیت لوړاوی:
د پوهنې وزارت یو له لویو لومړیتوبونو نه د کاري موثریت او مثمریت د زیاتېدو په موخه د تعلیمي ادارو د مدیریتي ظرفیت لوړاوی دی. دغه وزارت د ظرفیتونو لوړاوي پروګرامونه ارزوي او د خپلو ظرفیتونو د لوړاوي په ستراتېژیو کې به لازم اصلاحات راوړي. له دې سربېره، پوهنې وزارت به د مدیریتي ظرفیت د لوړاوي په موخه خپل اداري تګلارې او سیستمونه اصلاح او ساده کړي .

### د ظرفیت لوړاوي اساسي شرایط دا دي:
1. څېړنه او پراختیا
2. تصویب او تطبیق
3. په اداره کې دننه، د ادارو تر منځ او له نورو اړوندو ادارو سره همغږي
4. څارنه او ارزونه
5. د بشري مهارتونو وده

د ظرفیت لوړاوي دغه پنځه ګوني شرایط د اغېزمنې پالیسۍ د پلي کولو لاینفکه برخې جوړوي. په اصل کې پالیسي تدوین او تصویبېږي او همداراز د څارنې او ارزونې د همغږۍ یو مېکانیزم موجود وي، څو د کړو وړو له څرنګوالي، په ملي او سیمه ییزه کچه د د ماشوم له پاره د هر اړخیز او په زړه پورې ښوونیز چاپېریال د اجنډا له پلي کېدو څارنه وکړي.

له ټولو مهمه دا چې، د بشري مهارتونو وده، یو له حیاتي ارکانو نه دي چې باید په ټول جدیت سره ورته پام وشي، څو په هېواد کې د ټولو کارکوونکو مهارتونه وده وکړي. نو د ظرفیتونو او مهارتونو د ودې له پاره، پوهنې وزارت مکلف دی څو، روزنیز پروګرامونه، سیمینارونه، د اشنا کولو غونډې، لارښوونې او نور روزنیز پروګرامونه جوړ کړي.

## عامه پوهاوی

### د عامه پوهاوی رواجول په لاندې ډول:
- کورنۍ
- عمومي رسنۍ
- د والدینو شورا ګانې دښوونځیو په کچه
- محلې شورا ګانې
- د بوهنې وزارت د روغتیا ریاست
- د عامې روغتیا وزارت د روانې روغتیا ریاست،
- تیاتر او......
- دښوونځیو مدیران او ښوونکی دهر اړخیزو تعلیماتو د ریاست له لارې

**پنځمه برخه، د همغږۍ میکانیزم**

# پنځمه برخه

# د همغږۍ مېکانیزم

# د همغږۍ مېکانیزم

په دغې پالیسۍ کې، همغږي؛ د ځانګړو او ټولیزو زده کړو د وړاندې کوونکو مراجعو تر منځ د رسمي اړیکو په مانا ده. دغو اړیکو ته له دې امله رسمي ویل کېږي چې د دولت د لرلید لمخې، " ټولو له پاره په مساویانه توګه د کیفیت لرونکو زده کړو برابرونه ...۳ ، د پوهنې قانون ۴ او اساسي قانون باندې ولاړ دی.۵ .
د ټولیزو زده کړو د وړاندې کوونکو مراجعو، د تمرکز او مکلفیتونو له مخې، له یو بل سره توپیر لري . د ساري په توګه؛ په پوهنې وزارت کې چې بېلابېل ریاستونه جوړ شوي، هر یو یې جلا جلا دندې پر مخ وړي؛ اما د ټولو موخه په پوهنیزو چارو کې د ښه والي راوستل دي. له بل لوري د لوړو زده کړو بنسټونه هم لکه: پوهنتونونه، دارالمعلمینونه، او نور فني او حرفه یي مرکزونه هم ځانګړي مکلفیتونه لري او بلاخره غیر دولتي موسسې هم په تحصیلي چارو کې له ځانګړي قیمومیت نه برخمن دي.
نو له دې امله اړتیا ده، څو په دې برخه کې د ټولو مراجعو فعالیتونه له یوه مرکزي ټکي نه همغږي کړای شي، څو د هېواد قوانین او مقررات، د ملي تحصیلي موخو، پلانونو، د ودې عمومي پالیسیو، ټولنیز – اقتصادي چارې ټول رعایت او له هغه نه پیروي وشي.
دې ته په کتو سره او د پوهنې وزارت د دغې پالیسۍ پر بنسټ، مرکزي ارګانونه د ټولیزو زده کړو د همغږۍ مسوول دی. نو له همدې امله پوهنې وزارت د ټولیزو زده کړو د ټولو برابروونکې د مراجعو رسمي او قانوني همغږي کوونکی دی .

## د همغږۍ موخې:

- **عمومي موخه:** د ښې همغږۍ له لارې به په ملي کچه د زده کړو د ودې بهیر ګړندی شي چې له مخې به یې د معلولو او پاتې شویو ماشومانو له پاره د ځانګړو او ټولیزو زده کړو چارې ښې پرمخ ولاړې شي .

- **ځانګړې موخې :**

1. د ملي، ولایتي او ولسوالیو په کچه د ځانګړو او ټولیزو زده کړو د خدمتونو د وړاندې کوونکو مراجعو او غیر دولتي مؤسسو د ښو خدمتونو د وړاندې کولو له پاره د دندو او مسوولیتونو تحلیل.
2. د همغږو شویو فعالیتونو له مخې، د ځانګړو او ټولیزو زده کړو په وړاندې کولو سره د حکومت د سکټوري وزارتونو داخلول .
3. د هېواد په لوړو زده کړو بنسټونو کې د ځانګړو او ټولیزو زده کړو په برخو کې د څېړنو د زمینې برابرول .
4. د مالي او بشري منابعو د ورکړې په برخو کې د عادلانه تخصیص له پاره د حکومت د نافذه تګلارو له مخې د ټولیزو زده کړو د پالیسۍ څارنه او ارزونه.

## د همغږۍ نورې برخې

د ښوونکو زده کړې د پالیسۍ همغږي په بېلابېلو برخو کې لکه؛ د درسي نصاب جوړونه، د درسي نصاب تفکیک، په درسي نصاب کې ادلون او بدلون، د ښوونکو روزنه، دولتي ادارو او غیر دولتي مؤسسو له پاره د ارزونې د معیارونو ټاکنه، صورت مومي.
پوهنې وزارت په هېواد کې د تحصلي سیسټم د مرکزي مسؤول ادارې په توګه به ډاډ تر لاسه کړي چې د ټولیزو زده کړو بېلابېل سمبالوونکي خپلې پالیسۍ ته ژمن دي.

### a) پوهنې وزارت

- د ښوونکو د روزنې ریاست
- د درسي نصاب د ودې ریاست
- د ټولیزو زده کړو ریاست

**b) په ولایتونو کې د پوهنې ریاستونه:** د دغو مراجعو او اشخاصو مسوولیت به پر غاړه لري .

- د ولسوالۍ د معارف مدیریت
- د ولایتونو او ولسوالیو په کچه د دارالمعلمینو او د ښوونکو د روزنې مرکزونه
- د ښوونځیو مدیران:
- د زده کوونکو کورنۍ
- زده کوونکي

### c) سکتوري وزارتونه:

- د کار، ټولنیزو چارو، شهیدانو او معلولینو وزارت
- د عامې روغتیا وزارت

### d) پوهنتون:

- د ځانګړو زده کړو پوهنځی – د کابل ښوونې او روزنې پوهنتون
- هغه څېړنیز مرکزونه چې له کابل پوهنتون سره تړاو لري

### e) نورې ادارې :

- د ملګرو ملتونو دفترونه
- غیر دولتي مؤسسې

### f) نړۍ وال همکاران

- د تجربو د تبادلې او د ماشومانو له پاره د هر اړخیزو او په زړه پورې زده کړو د افکارو به اړوند او د باندې هېوادنو له لارې.
- د ماشوم د هر اړخیزې او په زړه پورې زده کړې د همغږۍ ګروپ ځواکمن کول.

- د تمویل کوونکو هېوادنو د هر اړخیزو زده کړو مرکزونه او
- د پوهنې وزارت ویب سایت

## د همغږۍ د مېکانیزمونو په لړ کې د بېلابېلو ادارو دندې او مسوولیتونه

د ټولیزو زده کړو د خدمتونو د وړاندې کولو غرض؛ یوازې د محرومو زده کوونکو د اړتیاوو پوره کول دي. دغه اړتیاوې، د امکاناتو، مسلکي کادرونو شتون او د منابعو له ځانګړې کېدو سره تړاو لري.
دغه پالیسي پر دې پوهه ده، چې د ټولیزو زده کړو د خدمتونو په وړاندې کولو کې نیمګړتیاوې شته، چې تر ټولو لوی لاملونه یې، د هېواد ځمکنۍ وضعیت، ټولنیز، اقتصادي، د ښوونکو د روزنې له پاره د امکاناتو نه شتون، د خلکو سلوک او له ټولیزو زده کړو نه د هغوی اخیستنې دي. په هر حال، یاد شوي موانع باید د زریزې ودې(MDGs) د موخو تر لاسه کولو له پاره د حکومت د هڅو او روزنه د ټولو له پاره (EFA)، له لارې لرې کړای شي.

د هرې یوې ادارې کلیدي دندې او مسوولیتونه کېدای شي په لاندې توګه وڅېړل شي:

### a)د پوهنې وزارت دندې او مسوولیتونه

- د ټولو ځانګړو او ټولیزو زده کړو د خدمتونو وړاندې کولو له پاره د یوې مرکزي ادارې په توګه عمل کول.
- په ولایتونو کې د ټولیزو زده کړو له پاره په کافي توګه د بودجې جلب او ځانګړې کولو، د پالیسۍ پلي کولو، څارنې او ارزونې ته پروګرام جوړونه.
- د دې ډاډ ورکول چې د ټولیزو زده کړو ُاصول د پوهنې په ټولو اړوندو سکټوري پلانونو کې شامل شوي دي .
- د دې ډاډ ورکول چې د ځانګړو او ټولیزو زده کړو درسي نصاب په سمه توګه تسوید او تصویب شوی او د ټولو ځانګړو اړمنو او معلولو زده کونکو ته ورکول کېږي .
- د ګمارنې په برخه کې د نافذه تګلارې له مخې، د ځانګړو او ټولیزو زده کړو له پاره د ښوونکو روزنه او ګمارنه.
- د ښوونکو د روزنې له پروګرامونو او کورسونو نه په مقطعه یي توګه کتنه. څو ډاډ تر لاسه شي، چې دغه کورسونه او پروګرامونه پر معیار برابر دي او د ټولیزو زده کړو له اړتیاوو سره سم کافي روزنه او مهارت ورښوول کېږي.
- له دې نه ډاډ تر لاسه کول، چې د ښوونکو د روزنې په مرکزونو کې ځانګړي او ټولیز کورسونه د مسلکي ښوونکو له لوري پرمخ وړل کېږي.
- د لارښوونو برابرونه، د موادو د څېړنې معیارونه ( د بریل کتابونه او اشاري ژبه ) د معارف د کیفیت د ساتنې په موخه له نورو ادارو سره سلا مشوره.
- د ګړندي اقداماتو د پېژندنې په موخه د څېړنې د ابزارو برابرونه.

- په ټولو تعلیمي مرکزونو او هغو مرکزونو کې چې د غیر دولتي ادارو له لوري اداره کېږي، د ځانګړو زده کړو له پاره د زمینې برابرونه.
- د ملي ډیټابېس جوړونه ( اطلاعاتي بانک) چې د هېواد د تعلیمي معلوماتي مدیریت له سیستم سره(EMIS) یو ځای کېږي.
- د معلولو ماشومانو د ملاتړ او کیفیت لرونکو زده کړو وړاندې کولو له پاره د ټکنالوجیکي وسایلو د برابرولو په موخه له ټولو ادارو سره همکاري.
- پر نړۍ والو معیارونو باندې د سمبالېدو او د اړتیاوو د پوره کېدو په موخه له ټولو اړوندو بنسټونو سره د کاري اړیکو برابرول.
- د ځانګړو او ټولیزو زده کړو په بېلابېلو برخو کې د ظرفیت د لوړاوي له پاره د پروګرامونو جوړونه.
- د ځانګړو او ټولیزو زده کړو په اړه د سیاسي ټولنو، دیني، سیمه ییزو مشرانو او عامو خلکو د پوهاوي له پاره هلې ځلې .
- د مرعي الاجرأ د څارنې او ارزونې د تګلارې له مخې، د ټولیزو زده کړو د پالیسۍ له پلي کېدو نه څارنه او ارزونه.
- له ابتدایي تحصیلاتو نه لوړو تحصیلاتو ته د څېړنیزو فعالیتونو لوړول.
- د مثبت تبعیض پیاوړي کول، څو محروم ماشومان د تحصیلاتو په لومړنیو، چمتوالي، ابتداییه، منځنۍ ، عالي او په نورو تحصیلي برخو کې د شمولیت کچه لوړه شي .
- د معلولو کسانو له پاره د یوې ملي شورا د تاسیسولو له پاره هڅې؛ څو د ټولو له پاره د کیفیت لرونکو زده کړو د غوښتنې مسؤولیت پر غاړه ولري.
- له دې نه ډاډ تر لاسه کول چې په ټولیزو زده کړو ریاست کې ټول پرسونل مسلکي او مجرب دي څو د ټولیزو زده کړو د پالیسۍ د پلي کېدو څارنه وکړي.
- د ښوونکو له ټولنو او مسلکي ډلو سره په همکارۍ د داسې تګلارو طرحې جوړول چې له مخې، یې د ځانګړو او ټولیزو زده کړو د ښوونکو د ګوښه کېدو د مخنیوي په موخه د مکافاتو برابرونه وکړي .
- د ښوونکو او د زده کوونکو د مور او پلار تر منځ د شخړو او ستونزو د هواري په موخه د یوه مېکانیزم جوړونه.

## b)په ولایتونو کې د پوهنې ریاستونه

- په ټولو ولایتونو کې د ټولیز زده کړو د پلي کولو له پاره پروګرام جوړونه، د بودجې برابرول، سازمان ورکول، د کارکوونکو چمتو او همغږي کول.
- د ولسوالیو په کچه د ټولیزو زده کړو د اسانه تطبیق له پاره د ولسوالیو د پوهنې مدیریتونو ته لارښوونې.
- له دې نه ډاډ تر لاسه کول، چې ټولیزې زده کړې په ټولو تعلیمي برخو او ان په هغو مرکزونو کې چې د غیر حکومتي مؤسسو له لوري اداره کېږي، وړاندې کېږي.
- د ټولو ښوونځیو له پاره د عادلانه منابعو له ځانګړي کېدو نه ډاډ تر لاسه کول.
- د ګرځنده خدمتونو له وړاندې کولو او هغو ځایونو چې اړمن ماشومان پکې پر زده کړې بوخت دي ډاډ تر لاسه کول.

- له دې نه ډاډ تر لاسه کول، چې انفرادي تعلیمي پلانونه هغو ماشومانو ته چې ځانګړې روزنیزې ستونزې لري او همدا راز استثنايي ماشومانو ته هم.
- په ولایتونو او ولسوالیو کې د دارالمعلمینونو او د ښوونکو د روزنې د مرکزونو له لارې په سیستماټیک او دوامداره توګه د ښوونکو د ظرفیت لوړاوی.
- د ټولیزو زده کړو په برخه کې ښوونکو او ښوونځیو له پاره د لارښوونو په موخه د مسلکي کسانو ټاکنه.
- د ټولیزو زده کړو په برخه کې د داسې پروګرامونو جوړونه او همغږي کول چې له مخې یې، ښوونکو ته له خدمت نه وړاندې او د خدمت په درشل کې روزنه ورکړه شي.
- له دې نه ډاډ تر لاسه کول، چې د معلولو زده کوونکو د ځای پر ځای کولو پر مهال له ابزارو نه سمه ګټه اخیستل کېږي.
- د کیفیت له تضعیف پرته د پالیسۍ له تطبیق نه څارنه او ارزونه.
- د معلولو ماشومانو په اړه د اطلاعاتو راټولونه، ځانګړې روزنې، د ښوونکي روزنه مخکې له خدمت او د خدمت په درشل کې او له پوهنې وزارت سره د فني او حرفه یي زده کړو د بنسټونو شریکول.
- د ټولیزو زده کړو د پالیسۍ د پلي کولو او حق غوښتنې په موخه د سیمه ییزو شوراګانو په جوړونه کې مرسته.
- د ځانګړو او ټولیز زده کړو په برخو کې د عملي څېړنو هڅونه.
- د ټولیزو زده کړو د ښه والي په موخه له نورو غیر دولتي مؤسسو، د زده کوونکو له کورنیو، د ښوونځیو له مدیرانو، ښوونکو سره په ګډه کار.
- په ځانګړو او ټولیزو زده کړو کې د مبادلاتي، ملي او نړۍ والو ناستو جوړونه، څو ټولیزه زده کړې په افغانستان کې هم د نورې نړۍ په څېر ځای ونیسي.

## c)سکټوري وزارتونه

- د کار، ټولنیزو چارو، شهیدانو او معلولینو وزارت به د ماشوم له پاره د هر اړخیز او په زړه پورې ښوونیز چاپېریال د کاري ډلې یوه برخه وي.
- د کار، ټولنیزو چارو، شهیدانو او معلولینو وزارت به د ګمارنې، په فني او حرفه یي مرکزونو کې د محرومو کسانو د روزنې مسوولیت په غاړه ولري.
- د کار، ټولنیزو چارو، شهیدانو او معلولینو وزارت به د داسې مناسبو او د تصویب وړ پالیسیو طرحې مسوولیت پر غاړه ولري، چې د محرومو کسانو د ګمارنې پلوی وي.
- د عامې روغتیا وزارت به ډاډ تر لاسه کوي، چې د معلولو ماشومانو ژر تشخیص به د هغوي پر روغتیا ناوړه اغېز نه کوي. دغه وزارت به ښوونکو ته د اړتیا وړ لارښوونې او معلومات برابروي، څو د دقیقې ارزونې پر مهال او په عادي ښوونځیو کې د هغو له ځای پر ځای کولو سره مرستې وکړي. همدا راز یاد وزارت به تعقیبیه مېکانیزم هم جوړوي.

## d)د کابل پوهنتون او نورو پوهنتونونو د ښوونې او روزنې پوهنځي

- د ټولیزو زده کړو د درسي نصاب جوړونه چې د ځوانو ښوونکو او اړمن ځانګړو زده کوونو اړتیاوې پوره کړي.
- مجربو ښوونکو ته د مسلکي متداومې ودې له پاره د فرصتونو برابرونه، څو په خپل کاري ژوند کې پرمختګ وکړي.
- په هېواد کې د اغېزمن تعلیمي سیستم د پرمخ بیولو له پاره په ولایتونو او ولسوالیو کې د مدیریت او د ښوونځیو مدیرانو ته د اداري د روزنیزو پروګرامونو پیل.
- د عملي کارونو د بداینې له پاره د عملي څېړنو هڅونه، اجرأ او ابداع.
- ښوونکو له پاره د ټاکنې او ارزونې د معیاري ابزارو برابرونه، څو په ټولو ښوونځیو او په ځانګړې توګه د معلولو ماشومانو په ښوونځیو کې ترې ګټه واخیستل شي.
- په ځانګړو او ټولیزو زده کړو کې د تازه پېښو د خبرېدنې او د تجربو د شریکولو په موخه د نړۍ له پوهنتونو سره اړیکې نیول.

د یادولو وړ ده چې د تطبیق په درشل کې یو شمېر ستونزې د وړاندوینې وړ دي، ځکه په ځانګړو او ټولیزو زده کړو په برخو کې کافي بشري ځواک شتون نه لري. نورې ستونزې کولی شو د دولتي وجوه تخصیص ماهیت، په ځینو سیمو کې نا امنیو ته تړاو ورکړو. دا هغه څېزونه دي چې باید پرې تمرکز وشي.

لاندنی دیاګرام د همغږۍ د مېکانیزمونو ښکارندویي کوي



# ضمیمه

## با استعداده او نخبه ماشومان، د ديارلسم ګروپ په حيث، منزوي کسان

دا ډېره مهمه ده چې خپل با استعداده او نخبه ماشومان هېر نکړو؛ ځکه د دغه ماشومانو هېرول، په ټولنه کې د يادو ماشومانو د ګوښه کېدو لامل کېږي.

د بااستعداد او نخبه ماشومانو ملي ټولنه، دغه ډول ماشومان داسې تعريفوي: با استعداده او نخبه ماشومان عبارت له هغو ماشومانو نه دي، چې د ځانګړو زده کړو وړتيا لري او په يو شمېر فعاليتونو او مهارتونو کې لکه: رياضياتو، موسيقي ، ژبې او همدارنګه د حسي او حرکتي مهارتونو لکه: نقاشي، لوبې او نور، د زده کړو خارق العاده استعداد لري.

[10]په حقيقت کې با استعداد او نخبه زده کوونکي کولی شي د زده کړو په سم اسلوب سره ځو کلنې زده کړې په يوه کال کې تر لاسه کړي.

او همداراز که چېرې د زده کړې ځانګړی اسلوب او نورو ذهني فعاليتونو ته د هڅونې له لارې دغه ماشومان د دې وړتيا لري، ځو خپل دغه استعداد تر غټوالي هم وساتي او د يوه مبتکر پوه په صفت به وپېژندل شي.

که چېرې د زده کړې سم اسلوب ور نه ښودل شي او ونه هڅول شي نو دغه ماشومان مأيوسه کېږي او په درسي ټولګي کې د خپګان وخت تېروي او بلاخره منزوي يا ګوښه کېږي. نو لازمه ده چې په افغانستان کې هم څېړنې وشي، څو با استعداده او نخبه ماشومان وپېژندل شي.

[10] National Association For Gifted Children retrieved 27 February 2014 from http://www.nagc.org/index2.aspx?id=574

# منابع/ پالیسۍ او اړوند اخذ لیکونه د نورو معلوماتو له پاره


د عمل له پاره د داکار چوکاټ (UNESCO, 2000)
http://unesdoc.unesco.org/images/0012/001211/121147e.pdf

جعبهٔ ابزار ILFE
http://unesdoc.unesco.org/images/0021/002142/214297e.pdf

دزریزې ودې موخې (MDG's, UN, 2000)
http://www.undp.org/content/undp/en/home/mdgoverview.html

د ټولیزو تعلیماتو په اړه د پالیسیو لارښود
http://unesdoc.unesco.org/images/0017/001778/177849e.pdf

د عمل له پاره د سلامانکا چوکاټ او بیانیه1994 (UNESCO,
http://www.unesco.org/education/pdf/SALAMA_E.PDF

د نړۍ والو اعلامیه د زده کړې د ټولو له پاره (UN, 1990)
http://www.unesco.org/new/en/education/themes/leading-the-international- agenda/education-for-all/the-efa-movement/jomtien-1990/

د ملګرو ملتونو د ماشومانو د حقوقو کنوانسیون (UN, 1989)
http://www.unicef.org/crc/

د ملګرو ملتونو د معلولیت لرونکو کسانو د حقوقو کنوانسیون (UN, 2006)
http://www.nda.ie/cntmgmtnew.nsf/0/9515327CFCF84669802574C70032B07F/$File/NDAUN-EUSeminar.pdf